Kandahar. Kabul
Vol.11, No.12, Hut 1349
(February 1971)

کندهار

صدراعظم ښاغلی نور احمد اعتمادی دهیواد په مرکزی سیمو کی په خپل وروستی سفر کی د بامیان د ولایت د پنجاب ولسوالی د بنسټ ډبری ایښودلو په محفل کی دهغه ځای د خلکو سره د نژدی څخه خبری کوی ۰

کندهار

د ۱۳۴۹ لمریز کال د کب میاشت

کندهار مجلی دلوستونکو سره وداع

دهغی پیرزوینی او مهربانی له مخه چی د اطلاعاتو او کلتور وزارت او د دولتی مطابعو ریاست زما په هکله څرګنده کړه او زه ئی د کندهار د مطبعی د مدیر په حیث مقرر کړم خوښی او مننه کوم، او ځکه چی وروسته تر دې

ځلمی «بارك»

زما رسمی ارتباط د مجلی څخه شلیږی نو غواړم چه د کندهار د مجلی د ګرانو لوستونکو سره مخه ښه وکړم

د کندهار مجله چه د هیواد په دې تاریخی ولایت کی خپریږی د طلوع افغان د درنی ورځپاڼی تر څنګ د خلکو د تنویر په لاره کی خدمت کوی او غواړی چی په خپله میاشتنۍ خپرونه کښی د کندهار د تاریخ، ملی کلتور او ادب د معرفی کولو په لاره کښی ستره برخه واخلی.

ما چی درې کاله او شپږ میاشتی د مجلی د مدیر په حیث دلته تیر کړه که څه هم دوسایلو

پاته د پشتی په ۳ مخ کی

موږ باید خپله ټولنه

د پرمختګ پر سالمه او بهترینه لار بوزو

ګران ورونه خبر دی چه په دی ورځو کښی د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په صوابدید د هغی سابقی له مخه چه د کندهار د مجلی مدیر ښاغلی زلمی بارك په طباعتی چارو کښی درلوده د دغه ولایت د مطبعی د مدیر په حیث مقرر شوی او د مجلی د مدیریت نشراتی او اداری چاری د بل چلونکی تر مقرر کیدو پوری ماته راسپارل شویدی.

د کندهار غوندی په تاریخی او مهم ولایت کښی چه دوی پیړۍ پخوا د هیواد د سیاست، کلتور او اقتصاد مرکز ؤ او اوس هم د کابل نه وروسته د هیواد لوی ولایت دی د کلتوری چارو وارسی اخبار لیکل د مجلی چلونه، د دغی لاری نه د خلګو په تنویر او راویښولو کښی سالمه مبارزه دیوی خواډیره حوصله، پرله پسی کوښښ، فداکاری، ځان وقفول او د بلی خوا هوښیاری، واقع بینی، د خلکو او هیواد او سنی شرائط په نظر کی نیول او د پوهانو او لیکوالو معنوی همکاری او کلکه ملګرتیا غواړی زموږ د ټولنی معنوی رشد او مثبت تحول، اصلاح او د چارو

غلام محی الدین [ایوبی]

پرمختګ چی زموږ د ټولو هیواد والو ملی هیله او سیپڅلی آرزو ده دغه حرکت او نهضت که د خلګو د ذهنی او عینی شرایطو چمتووالی د ځوانانو لوړ عزم صادقانه فعالیت کوشش او فداکاری غواړی نو له همدغه کبله اجتماعی حرکت او ملی نهضت محسوس هم نه دی او هر څوک نه شی پوهیدای چی مثلاً زموږ ټولنه څومره پرمخ تللی او د ارتقا په کوم پوړ کی قرار لری.

لکه چی د یوې ونی یا نبات وده او لوئیده څوک په سترګو نه شی لیدلای خو یوائی دومره پوهیږو چی د ټاکلی مودی په تیریدو سره یو نبات او یا ونه لویه شوی او ثمرور کوی دغه رنګه د ټولنو په اجتماعی حرکتونو او شعور په وده او معنوی رشد هم څوک نه پوهیږی یوائی اجتماعی

پاته د پشتی په ۳ مخ کی

د امتیاز خاوند : د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
د مسؤل مدیر وکیل : غلام محی الدین [ایوبی]

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی ، تاریخی ، اجتماعی ، علمی

اداره : د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹
د یوولسم کال دولسمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۳۶

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی
د هیواد په داخل کی [۳۲] «
په د باندنیو هیوادو کی یو ډالر

د کب میاشت
۱۳۴۹ لمریز کال

د دې ګڼې مضامین

د کندهار مجلی د لوستونکو سره وداع — د پشتی دوهم مخ
موږ باید خپله ټولنه د برمختګ پر سالمه او بهترینه لار بوزو — د پشتی دوهم مخ

فعالیت او بهکاری [۱] مخ
د نړی مشهور ..... [۲] مخ
سبک څه شی دی؟ .... [۳] مخ
د طب د پیدایښت تاریخچه [۴] مخ
د اعلیحضرت احمد شاه بابا وطن دوستی [۶] مخ
د روانشناسی د علم موضوع [۹] مخ
په کلیوالی سیمو کی د ولور .... [۱۱] مخ
د فکر تکامل [۱۲] مخ
شعر - نوی مهال دې غوټی مسیری [۱۴] مخ
سپین ذنبق [۱۵] مخ
د شم ژړا [۱۵] مخ
د امریکا د آزادی مجسمه [۱۵] مخ
الحاج شیخ محمد طاهر کندهاری [۱۶] مخ
د بیلو ن درد [۱۷] مخ
د نیل ناوی [۱۸] مخ
د پښتنو تعاملی حقوق [۱۹] مخ
د کوه نور الماس [۲۰] مخ
ساینس او هنر [۲۱] مخ
افغانی بدلو ته یوه کتنه [۲۲] مخ
افغانستان د افغانستان لپاره [۲۴] مخ
ګډ مسؤلیت [۲۵] مخ
ټینګ عزم او کلکه اراده د بشری ژوند .... [۲۶] مخ
بو تیچلی د بنکلو بنځو نقاش [۲۷] مخ
قلیعمل العامل فی ایام مهله [۲۹] مخ
مهاراجا او بنا [۳۰] مخ

د کندهار دولتی مطبعه

فعالیت
او
بیکاری

کار، حرکت، فعالیت د کائناتو په ټولو اجزاؤ او مظاهرو کښې لیدل کیږی. انسان چې د کائناتو په دې لویه کارګاه کښې یوشهکار مخلوق بال کیږی، هم مجبور دی چې د طبیعت دا قانون پرځای کړی او که چیری دې قانون ته د زړه له اخلاصه غاړه کښېښودله شی نو طبیعی نوامیس ټول هغه شیونه او ارادې له مینځه وړی کوم چې د طبیعت د غوښتنو سره برابر نه وی لکه چې یو شاعر وائی:

موجیم که آسوده گی ما عدم ما است
ما زنده بر آنیم که آرام نه داریم

وختی چې دا خبره ومنل شی چې کار او فعالیت په ټول کائناتو کښې یو فطری امر او څرګند حقیقت دی اود ژوند حقیقی معنی او تعریف هم کار او فعالیت ته ویل کیږی.

که چیری د فعالیت مزې کمزوری شی نو د ژوند تار هم سم ورسره شلیږی؛ خو انسان په ژوندانه کښې په تش کار کولو او حرکت سره مکلف او مجبور نه دی، بلکه څرنګه چې انسان یو معقول او مفکر موجود دی باید د کار کولو سره نیت او منظور هم واری اودا هدف او منظور باید د عقل موازین اود فکر اساسات هم ومنلی شی.

لکه څرنګه چې وچه بیکاری له طبیعی ناموس څخه مخالف کار دی، دغه رنګه بیله تعقل او هدف ټاکلو څخه کار او فعالیت کول هم انسانی عمل نه شو بللای، خو موږ کار او بیکاری ته په اجتماعی نظر ګورو او غواړو چې د انسان په معاشی او اقتصادی ژوند کښې د کار قیمت او د بیکاری ضرورونه وښیو اودا واضحه کړو چې کار د ټولنو په ارتقائی سیر او بیکاری د اولسونو په انحطاط کښې څه تأثیر لری.

موږ دمخه کار د انسان د پاره یو طبیعی امر وبالله او د کار سره مو و یوه معقول منظور ته د انسان د پاره هم اشاره وکړه نو ځکه موږ هغه کار ته کار ویلای شو چې په هغه کښې اقتصادی تولید او مدنی ګټه پرته وی.

د کار له محصول څخه انفرادی ګټه ګرتیا بشپړه او اجتماعی شئون او حیثیت هم وسائل شی او داسی کار باید ونه شی چې په هغه کښې د نورو انسانانو شرافت او اقتصاد ته صدمه ورسول شی، څرنګه چې شرافت او اقتصاد د جامعی مشترک مال دی نو هر هغه زیان چې انسان ئی د کار په کولو و نورو افرادو ته رسوی ګواکی په حقیقت کښې

و خپل ځان ته تاوان او زیان رسولی دی
څرنګه چی یو شاعر وایی:-

هر که بر آینه خنجر می کشد
بر خویش خنجر می کشد

ځکه چی دغه مضر انسان هم د جامعی غړی
دی څرنګه چی په انسانی وجود کښی د یو
غړی په درد سره ټول بدن ناسازه کیږی، دغه
رنګه د افرادو په نامعقولو حرکتونو سره

هم د ټولی جامعی پیکر جریحه داره کیږی
چی دا خوږ بچه پوهو کسانو بل څوك لیدلای
نشی او نه دا درد هر څوك محسوسولای شی

ځکه نو د جامعی اکثره خلك ودې خوږ ته د
بی پروائی په نظر ګوری، او په اصلاح ئی نه
پسی کیږی.

او که چیری دیوې جامعی ټولو افرادو
دا درد حسولای سوای نو بیا نه دومره فکری
اختلافات او اقتصادی بی عدالتی مینځ ته
راتلی، او نه دومره شخړی او جنجالی مسئلی

دیوې ټولنی د افرادو ترمینځ پیښیدلی؛ د
مینی او عدالت پرشتی به هر ځای خپل وزرونه
غوړولی وای او انسانانو به ددې وزرو په
سایه او د انسانیت په غیږ کښی خپل انسانی

وجایب پر ځای یول؛ بیکاری هم په یوه جامعه
کښی د اقتصادی بی عدالتی نمونه ده او نتیجه
ئی کمزورتیا، فتنه انګیزی او وران کاری
وی، چی دا وضعیت بیا د جامعی پر عمومی

وضعیت سخته اغیزه اچوی او د یوه مملکت
اقتصادی بنیه کمزوری کوی؛ ځکه موږ دغه
بیکاران په لوی سر کښی بیکاره بللای نشو

او نه بیکاری ته چی ضد د کار دی قایل یو
خو وران کاری اخلاقی مفاسد، طفیلی ژوند
ټول هغه علتونه دی چی ددې ډول بیکاری
څخه زیږی چی پر هغه باندی اقتصادی منفعت

او مدنی ګټه نه وی بنا او که چیری د بیکاری
سره جهالت هم ملګری سی، نو دا د اجتماعی
ژوند د خرابتیا د پاره ډیر مؤثر عوامل ګڼل
کیږی چی له ډیری زمانی لپاره ئی په ډیر

زیار او کوښښ سره ریښی نه ایستلی کیږی
او یوه جامعه د داسی نیګر تیاؤ په درلوولو
سره د ترقی او نهضت خاوند او مالك کیدلای

نشی نو یوې هوښیاری جامعی ته په کار دی
چی له خپل ملك څخه بیکاری او ناپوهی
ورکه کړی.

ا،م «کرزی»

نثار احمد «رمیا»

د نړی مشهور وګړی

«آبا نوپیترو»

یو ایټالوی فیلسوف او طبیب دی؛ دغه سړی
د ۷ هجری څخه تر ۱۳ع پیړی پوری د ډیرو
نومیالیو طبیبانو څخه ؤ، چی په ۱۲۵۰ کښی
زیږیدلی او په پاریس کښی ئی د فلسفی او

طب تحصیل کړیدی، وروسته ئی په پاروا کی
هستوګنه غوره کړل او په اجتماعی خدمت
ئی پیل وکړ، په لږ موده کښی ئی نوم دومره خپور
شو چی سیالانو سره ګی پر درنی کړی او پرو-
پاګند ئی ورپسی کړه چی «آبا نوپیترو»
د خلکو د معالجی سره سم سحر او نجوم ګری
هم کړی، ددې خبری په اثر دوه واره تر
محکمی لاندی ونیول شو، خو دوهم پلا محکمه
ئی پای ته نه وه رسیدلی چی مړ سو.

آبا نوپیتر د خپلو لیکنو په سبك کښی د
ابن رشید او نورو عربی لیکوالو د لیکنو پر
لاره ډیر زیات ګامونه اخیستی دی.

سبک څه شی دی
او د لیکنی
مهم اساسات کوم دی؟

د لیک و یوې معلومی طریقی ته سبک ویل کیږی؛ یا په بل عبارت د تویولو ترکیب او د الفاظو تړلو ته سبک وائی، معلومه ده چی ذوق، سلیقه، طرز تفکر او ځینی داسی نور

عوامل لکه اخلاقی او روحی خصوصیات پر سبک یعنی د لیکلو پر طرف باندی پوره اغیزه ښندی .

د پورتنیو مختلفو عواملو له کبله د سبکو تعداد مختلف او د لیکونکـــو د تعداد سره مساوی دی، ځکه نو که دیوه لیکونکی لیکنه د انشأ د قواعدو او د لیک د قوانینو

په موافق وی د هغه لیکنه په ښکاره دیو ښه خوند او تاثیر درلوونکی وی؛ د اخبره چی بعضی لیکونکی د پروطرفدارانو د راوونکی

او ځینی بیا هیڅ نلری او لیکنه ئی بی تاثیره وی فقط د هغه د بیان او لیکنی په طرز بوری اړه لری .

دیوه لیکونکی شخصیت فقط د هغه د سبک له رویه معلومـولای سو مثلا ځینی لیکنی خـوښیدونکی او ځینی نـوری بیا بی روح خسته کنه او وچی وی چی د ویلو پـه وخت کښی بی تاثیره وهوا ته خوشی کیږی .

هیڅ اثر نه ښندی چی دا وروسته ډول لیکنی د یو غیر مترقی او ساده سبک نمایندگی کوی ښه د سبکو او بیان د طرز څخه هغه دی چی د طبیعت سره موافق وی لکه «والتر» چی

وایی هغه څه چی ویل یا لیکل کیږی هغه تر حقیقت لږ د توجه وړ وی .

د دې لپاره چی زموږ لیکنی خوندوری وی باید لیکونکی د طبیعت ولدنی ته لاس واچوی او د خپل زحمت او کار په وسیله ئی تقویه کړی .

زموږ ځینی لیکنی ډیری مغلقی او پیچیده وی چی د ټولو د خوښی باعث نه ګرزی ځکه نو د مغلقو جملو او ډیرو لغاتو استعمال هم ښه نه دی .

لکه چی د پوهانو څخه یو پوه وایی:
« الهام د ښه لیکلو په ساده لیکنه کښی دی » .

یو لیکونکی نسی کزلای چی ټول هغه حقایق چی ذاتاً په یوشی کښی پرانه وی اظهار کړی او وئی لیکی .

مګر بیا هم د کوښښ او لـوړو آثارو د مطالعی په وسیله کولای سی چی کرار کرار وهغه ته ځان نژدې کړی .

موږ څرنګه کولای سو چی په لیکنه کښی دیوه ښه سبک خاوندان سو ؟
لکه چی پورته ذکر سول د لودل د یو ښه سبک د لیکلو په قـریحـه طبیعی استعداد

او توانائی پوری اړه لری، مګر کار او کوښښ په دوهمه مرحله کښی د هغه واقع کیږی .
په دې ډول که یو شخص د لیکو د یوه

مترجم (حمیدی)

د طب د پیدایښت

تاریخچه

په دی باره کی چی د طب پوهنه له کوم وخت څخه تاسیس سوی او انسانان په بوخت سوی دی د پوهانو خبری سره بیلی دی ، یو یو څه وایی او بل بل څه چی څیړنه او غور په کښی بیله حیرت او سرګردانی څخه بله نتیجه نه لری ځینی مؤرخین وایی د دی علم کشف کلدانیانو

کړی دی او هغوی منځ ته راوستلی دی چی ځینی ئی دیمن جادو ګرانو ته منسوبوی او ځینی ئی بیا راپیدا کیدل د پخوانی یونان له پوهانو څخه بولی ، یوه برخه ئی بیا د مصر کاهنانو ته منسوبوی .

کلدانیان لومړنی ټبر ؤ چی د ناروغیو په باره کی ئی بحث وکړ دوی به خپل ناروغان یوه داسی ځای «روغتون» ته وړل او هلته به ئی غزول چی د خلګو تګ او راتګ به ډیر ؤ چی دا ځای به مصخوص د ناروغانو د پاره جوړ شوی ؤ او خلک به ئی پوښتنی ته هوری ورتلل .

کوم لارویان چی به د ناروغ له څنګ سره تیریدل دده پوښتنه به ئی هم کول او که به بل څوک دده د ناروغی په ډول مریضی اخته شوی ؤ او بیا به بیرته ښه سوی ؤ د خپلی جوړ تیا

علتونه به ئی ناروغ یا د هغه پرستار ته ورو ښوول او د دوی تجربی به پر مخصوصو تابلوګانو باندی چی د دی کار د پاره به ځړول سوی وی لیکل کیدی .

لدی کبله ویلای سو چی طبابت یو فن دی چی د زاړه کلدان د وګړو له خصوصیاتو څخه بلل کیږی او نورو ټولو زړو ټبرو او په هغو

کښی عربو له کلدانیانو څخه زده کړی دی . وروسته یونانیانو دا علم تر ټاکلو قوانینو او قواعدو لاندی کړی ، بابو به او فصلونه ئی ور جوړ کړل او په څو مبحثو پوری ئی منحصر کړ . له دوی څخه بیا فارسیانو او رومیانو طبابت په میراث یووړ .

د تاریخ له مخی لومړنی قوم چی طب ئی د بابل له کاهنانو څخه زده کړ ټول عربان وه چی په شپږمه میلادی پیړۍ کښی ئی له فارسیانو او رومیانو سره راشه درشه درلوده .

د دی ټولنی له نامتو کسانو څخه بوسړی ابن خدیم د تیم الرباب له قبیلی څخه ؤ چی د طب په علم کی په حذاقت سره منلی دی .

تر ده وروسته حارث ابن کلده ثقفی منځ ته راغی چی د عربو مشهور طبیب د جندی شاپور د مدرسی فارغ التحصیل ؤ چی د فارس په خوزستان کی مشهور ؤ تر ده وروسته ابن اومیه تمیمی جراح مشهوره دی .

وایی ابن اومیه له عربو څخه لومړی سړی ؤ چی سر بیره پر طب د خپل وخت د علومو او معارف سره آشنا سوده د پیغمبر دوره درک کړه خو د هغی ملګری له کبله چی د ابو ثفیان سره ئی درلوده مسلمان نه شو او د بدر په جګړه کښی مسلمانانو ونیوی او دوژلو فرمان ئی صادر شو .

څرنګه چې ده کوم تالیف او یا شاګرد نه درلود نو دده طب او پوهنه له منځه ولاړه او دده په مړینه سره د طب علم با الکل له عربو څخه ولاړ .

پر عربو باندې یو داسې وخت تیر سو چې طب او جراحي ئې نه درلوده او دا وخت د اسلام له ظهور څخه د امویانو دولت تر منځ پورې اوږد سو کله چې د اسلام دائره پراخه سوه او سلطنت ئې خپل لوړ حد ته ورسیده مسلمانانو تصمیم ونیو چې علمونه له بیلو بیلو لارو څخه وارد او له هرې ناحیې څخه هنرونه زده کړي .

په دې تصمیم کې ئې ډېر تر هر شي د طب د علم په زده کړه کې هاند وکړ ځکه طبابت داسې پوهنه وه چې تر هر علم ډېر ژر د العرب جزیرې ته راغله .

لومړنی سړی چې د علومو په منځ کې ئې خپله ځیرکي بنکاره کړه خالد بن یزید ابن معاویه اموی ؤ چې ده ته ئې د آل مروان حکیم لقب ورکړی ؤ .

خالد د طب د علم او نورو علومو ډېرې برخې چې نوی د العرب په جزیره کې پیدا سوی وه لکه کیمیا او نجوم په عربي ژبه ترجمه کړل او په پنځه اتیایم هجري کال کې مړ شو .

خالد لومړی سړی ؤ چې په اسلام کې په عربي ژبه د نورو کتابو مترجم شو او دده په غوښتنه له رومیانو څخه ډېرو پوهانو (اطسفن) او (ماسرجویه) له فاسفي ، نجوم ، طب او نورو څخه کتابونو په عربي نقل کړل .

ډېر وخت دغسې تیر سو خلافت له بني امیه څخه بني عباس ته ورسیدی او سلطنت ئې له سفاح څخه وو رور منصور ته ورسیدی ، منصور د نجوم د علم سره ډېره مینه لرل او په هغه ئې ډېر عمل وکړ .

(د ۳ مخ پاته)

سبک څه شی دی ...

طبیعي استعداد خاوندوی او هغه د کار او زحمت په وسیله تقویه نکړي بنکاره ده چې هغه استعداد به یې وحشي پاته شي نو که موږ د طبیعي استعداد خاوندان یو او یا نه یو نو نه بنایي چې د تمرین او زحمت څخه آرام کښینو که څه هم مشق او تمرین په لیکلو کښې ضروري او مهم شرط دی مګر هیڅ وخت د طبیعي استعداد جانشین نشي ګرزېدلای ولې کولای سي چې هغه لیکنې ته خوندور کې ډېرو لیکونکو خپل طبیعي استعداد و نه پسله ډېره وخته څخه بنکاره کړیدی لکه (روسو) چې خپل طبیعي استعداد ئې پسنه څلویښت کاله د کار او زحمت په وسیله تقویه کړ او وولوړی درجې ته ئې ورساوه او هر چا به دده لیکنه په ښه ډول مطالعه کوله او کوښښ ئې کوی لکه چې [بوفان] وائي زه هره ورځ لیکنه زده کوم دا نه بنائي چې هره ورځ د لیکنې طرز عوض او تبدیل کړو بلکه باید د کار او کوښښ په وسیله سره هغه خپل زنګ زده استعداد تکمیل او جلا داره کړو هر یو د لویو لیکنو څخه پسله ډېر وخت او ډېر کار وزحمت څخه دیوه خاص سبک خاوند ګرځېدلی دی څو چې په دې کار کښې ئې ډېر پیروان پیدا کړي او لوی نوم ئې ګټلی دی یعنې د لیکنې د طرز ډېر تغیر او تبدیل هم ښه دی بلکه د هغې واحدی (یعنې تکمیل په ښائي چې ښه نتیجه ورکړي لکه چې (ویکتور هوګو) د یوه رومانتیک سبک خاوند ؤ پسله شپیته کاله تربیې او زحمت څخه ئې ځان تر دی حده ورساوه چې د ټولو خوښ او د لوړ مقام خاوند سو پورته یوه برخه د هغه معلومات څخه ده چې ښائي په لیکنه کښې کومک وکړي .

عطائي

مترجم «منصوری»

د اعلیحضرت احمدشاه بابا وطن دوستی

دسراج التواریخ کتاب د احمد شاه بابا د سلطنت د ابتدا څخه بیا تر اوسه پوری پوره شاهدی ورکوی چی افغانی ټولنی د آزادی په لارکښی څومری سربښندی کړی او د څومره غټو غټو قوتو سره مخامخ شویدی بیائی هم خپل طبعی خاصیت چی آزادی ده دلاسه نه ده ورکړی او ترهغو پوری چی د افغان ټبر په دنیا کی ژوندی وی خپله آزادی به دلاسه څخه ورنه کړی .

څرنګه چی د دغو فدا کار و او غښتلو پښتنو د خدمت په باره کی څو کتابه ولاس ته راغلی دی لیکن د نه قدرت په نسبت د هغو ټولو څخه په یوه سره قناعت کوم او نبا غلو ویونکو ته ئی تقدیمه ومه .

ټوله پوهیږی چی احمدشاه بابا څوك و او د افغانستان و مملکت نه ئی څه رونق و باخښه او د دښمنانو په مقابل کښی ئی د خپلی خاوری د آزادی په لارکی څه ربړونه وګالل ؟

په (۱۱٦۰) هجری کال کښی تاج پوشی وکړه او بخپل نامه ئی سکه ووهل دار دو تنظیم او ترتیب ئی په ښه ډول سره وکړ او د کندهار څخه ئی غزنی ، کابل پیښور ته ولیږل څو د هغه ځای پښتانه ئی په یوه اتفاق او اتحاد کړل او هغو کسانو ته چی په دی لارکښی ئی مقابلی کولی سخته سزا ورکړه که څه هم د احمدی او سلطانی تاریخ او دعا مری د خزانی څخه ښکاره ده چی د هجری په ۱۱٦۱ کال کښی د لاهور او هندوستان د نیولو په قصد د خپلو منظمو عسکرو سره هغی خواته وخو ځیدی کله چی ولاهور ته ورسیدی د دښمن عسکر د دوی د مقابلی نه راوتلی وه پدی ځای کښی د دواړو خواؤ څخه جنګ په ډیر شدت سره و مښتی چی په نتیجه کښی د هند عسکر و ماتی وکړه توپخانی او مالونه ئی د افغانی عسکر و پلاس ور غلل او د هغه ځای تر تنظیم او ترمیدز وروسته و خپل وطن ته د اوګرځیدی تر یوه کال وروسته اعلیحضرت احمدشاه بابا د ریمه پلاد هند وخواته حرکت وکړ او د نادر افشار د متصرفو مځکو څخه ئی استفاده کړی د سیالکوټ ، کجرات او رنګ آباد او امرتسر مالیات ئی د کارکونکو په توسط و کابل ته راوړسول .

په بل کال کی بیا اعلیحضرت احمدشاه بابا د خراسان وخواته حرکت وکړ څنګه چی د خراسان امیرانو کوښښ کاوه چی هرات د خپل مملکت ضمیمه کی لیکن اعلیحضرت احمدشاه بابا هرات په خپل تصرف کی راوستی او تر یولړ انتظاماتو او ترتیباتو ور وسته بیر ته راستون شو .

په «۱۱٦۲» هجری کال کښی دوهم وار بیا اعلیحضرت احمدشاه بابا د خراسان و خواته حرکت وکړ او نیشاپور ئی فتح کی و روسته د بلوچستان په سمولو کی لازمه هدایات ورکړه او د مشهد و خواته راروان شو هغه ئی هم دغه رنګه د افغانستان د خاوری ضمیمه کړی او د هرات وخواته راغلی .

پسله دی احمدشاه بابا غوښته چی د افغانستان په آبادولو کښی کوښښ وکی د علی قلی میرزا د بیانه څخه چی وائی کم وخت چی

اعلیحضرت احمدشاه بابا په هرات کی ؤ چی د شاولی خان په مشری یی عسکر و ترکستان ته ولیږل او پخپله نوموړی اعلیحضرت د کندهار وخواته رارهی شو .

کله چی شاولی خان هلته ورسید، میمنه اندخوی، شبرغان، بلخ بامیان او بدخشان ئی پخپل تصرف کی راوستل او په نوموړو ځایو کښی ئی حاکمان مقـــــرره او پخپله د کندهار وخواته رارهی شو کله چی د اعلیحضرت احمدشاه بابا په حضور مشرف شو د هغه ښه خدمت په اساس چی کړی ئی ؤ د نوموړی اعلیحضرت له خوا څخه د دیوان اعلی د وزارت په رتبه سرلوړی شو .

په ۱۱۶۵ هجری کال کښی څلرمه پلا بیا اعلیحضرت احمدشاه بابا د لاهور وخواته حرکت وکړ که څه هم د هغه ځای مشران ئی و مقابلی ته پورته شوی وه خو د دوی ترسرکوبی او آرامی وروسته د کابل له لاری و کندهار ته راغی اعلیحضرت احمدشاه بابا پنځم وار و هندوستان او لاهور ته سفر وکی کله چی و لاهور ته ورسیدی د هغه ځای د ښه انتظام ترکتلو وروسته ئی د ډهلی وخواته حرکت وکړ تقریباً یوه میاشت ئی هوری تیره کړه دده د توقف په وخت کښی

اعلیحضرت دوهم علم گیر په فرمان سره دوه کروړه افغانی د پیش کش په ډول د اعلیحضرت احمدشا بابا په خزانه کښی تحویل کړی او هم ئی د اعلیحضرت شاه علم گیر وریره په نکاح سره وغوښته په دی وخت کښی دده زوی شهزاده تیمور هم دده سره ؤ .

په دغه کال کښی اعلیحضرت احمدشاه بابا د سورج ملجات د ترټنی د پاره واکبر آباد ته حرکت وکی د سلطانی صاحب د لیکنی په اساس د مخه تر دی چی دی واکبر آباد ته ورسیږی د سورج ملجات مقبوضه ئی فتح کړه وروسته ئی وهغه ښار ته چی د هندوانو پخوانی عبادت خانه وه حرکت وکړ د بتانو ترماتو لو او د هغه ځای ترتارا جو لو وروسته واکبر آباد ته کامیابه ورسید .

پسله یو څو عمره و ډهلی ته ولاړ او د اعلیحضرت محمدشاه لور ئی په نکاح سره وغوښته د افغانستان وخواته را رهی او خپل زوی تیمور شاه ئی د نائب الحکومه په حیث په هند کی پرېښود .

په ۱۱۷۳ هجری کال کښی چی اعلیحضرت احمدشاه بابا په کندهار کی ؤ یو لوی ښورښ د هندوستان د ځینو خلکو او سکانو له خوا پیدا شوی ؤ نوموړی اعلیحضرت د هغو د ترټنی له پاره شپږمه پلا و هندوستان ته رهی شو په دی سنه کښی یو خونی جنګ و نښت چی په نتیجه کی شهنشاه بری حاصل کی او ترسرکوبی وروسته دی و ډهلی

او شاه جهان آباد ته راغی په ۱۱۷۴ هجری کال کی تر یو لړ خونی جنګو وروسته د هندلوی اردو د خپلی مدافعی او سختو حملو د پاره چی په پانی پت کی ترتیبات نیولی وه کله چی مقابله شروع شوه او دا خونی جنګ څو ورځی مسلسل دوام پیدا کی وروسته اعلیحضرت احمدشاه بابا وخپل اردو ته د یورش امر ورکی او د ربیع الاول په دوهمه ورځ محاربی په ډیر شدت سره خپلی لمبی پورته کولی څو چی ئی د هندولوی اردو ته ماته ورکړه .

اعلیحضرت احمدشاه بابا څو چی ئی د هندولوی اردو ته ماته ورکړه

مقابل لوری بله ورځ بیا تصمیم نیولی

ؤ چی د پښتنو پر لوی اردو خونی حمله وکی هغه ؤ چی په ۱۱۶۴ هجری کال د جمادی الاخر د میاشتی د ۴ شنبی په ورځ د ټولو قواؤ په ملګری ئی پر پښتنو حمله وکړه .

پدی ځای کښی پښتانه لکه زمریان چی په ښکار پسی ګرزی د تالندی په ډول ئی غړمبی کاوه هغه ؤ چی هندوان (۳۰۰) متره د خپلو استحکاماتو څخه لیری ولاړه پدی وخت کښی پښتانه په تکبیر ویلو سره په تعرض ګوتی پوری کړی

او ددوی د جنګ صفونه ئې یو په بله سره ننه ایستل او څو تنه سردار ان ئې ورمړه او د ډېرو نورو څخه ئې سرونه جلا کړه .

او دا ردو دغټانو څخه ئې لکه باد و چنګو راد او نور ئې په قتل ورسول او د جنګ میدان ئې د دښمنانو په وینو ګلرنګ وګرزاوه .

په دی جنګ کی ۲۲ زره مینځی او مریان ۵۰ زره آسان ۲ لکه غوائي (۵۰۰) د پیل ځنځیران او یوزیات شمیر اوښان توپخانی او ډېر جواهرات د غازیانو په لاس ورغلل .

اعلیحضرت احمدشاه بابا د دې لوی او خونی جنګ تر فتح کولو وروسته د ډهلی وخواته حرکت وکړ او پسله هغه د کابل له لاری کندهار ته راغی .

اعلیحضرت احمدشاه بابا څه وخت په کندهار کښی ؤ او په ۱۱۷۴ هجری کال کښی احمدشاهی ښار بناه او تعمیر کی څنګه چی په پنجاب کښی یو لوی بغاوت پورته سوی ؤ اعلیحضرت د هغود آرامی د پاره او ومه پلاو هندوستان ته سفرو کی کله چی ولاهور ته ورسېدل (۲) لکه عسکر د هند پر سرحد باندی اجتماع کړی وه اعلیحضرت احمدشاه بابا د دې خبر تر خبریدو وروسته پوره ترتیبات ونیول او په دوو ورځو کی یی ۱۹ کروه لار پری کړه څو چی هغه اجل نیولو ته ئې ځانونه ورسول .

په (۱۱۷۵) هجری کال کښی د رجب په (۱۱) ورځ سخت جنګ ونښت چی په نتیجه کښی د پښتنو غیورو عسکرو د سکانو ۲۰ زره تنه ئې په یره حمله سره وخاورو ته وسپارل او تر حد زیاته الجه د پښتنو دارد و په لاس ښیوتل د دې جنګ تر ختمیدو وروسته ولاهور ته ولاړ او یوه ټولی عسکر ئی وکشمیر ته وایږل څو چی کشمیر په خپل تصرف کی راولی څنګه چی د مخه هم کشمیر د افغانستان تر اثر لاندی ؤ

دوهم واریی بیا پسله خونی جنګ څخه په افغانستان پوری و مښلاوه او فتح ئی کی .

اعلیحضرت احمدشاه بابا د هند او کشمیر ترسمیدو وروسته وکندهار ته راغی هغه ؤ چی په (۱۱۷۹) هجری کال کښی د هغی فتنه جوئی په نسبت چی په هند او پنجاب کی پیښه شوی وه حرکت و فرمایه

او د دوی تر کرارولو وروسته ئې خپل مرکز کندهار ته تشریف راوی .

په (۱۱۸۲) هجری کال کی چی بلخ، بدخشان او نورو ولایتو نو ښورښ کړی ؤ اعلیحضرت احمدشاه بابا خپل وزیر شاه ولی خان ئی د ۶ زرو سپرو سره هغی خواته ولیږی نو موړی وزیر تر رسیدو وروسته وپوهیدی چی ښورښ د بخارا د حکمران شاه مراد بیګ څخه پورته سوی نو ځکه ئې د هغه خبر واحمدشاه بابا ته واستاوه .

اعلیحضرت د یوه منظم اردو سره د کندهار او هرات له لاری د بخارا وخواته وخوځیدل کله چی مراد بیګ خبر شو خپل لښکر ئې د مدافعی لپاره د (قرشی) په حد کی چی د جنګ محاذ ؤ ودراوه د لته اعلیحضرت احمدشاه بابا د اسلامی دین په نسبت د جنګ څخه لاس پورته د صلحی پړی ئی ټینګ او د دواړو مملکتو سرحد ئی د جیحون سیند وټاکی .

کندهار ته ئې د راتګ په مسیر کی خرقه مبارکه په ډېر عزت د ځان سره وکندهار ته راوړه .

اعلیحضرت احمدشاه بابا د پنجشنبی په شپه (۱۱۸۶) هجری کال کښی د رجب په میاشت کی وفات سو او په هغه ځای کی چی وصیت ئی کړی ؤ ښخ کړه شو .

ګرانو ویونکو ته به معلومه وی چی د دې مملکت د تاریخ پاڼی د هغو فداکاریو او جنګو څخه چی د دې غرنی مملکت لوی او کوچنی کړی دی ځلانده او ښکاره دی .

پاته په ۱۰ مخ کی

د محمد عظیم هوشمند د عالی دار المعلمین محصل تتبع او لیکنه

د روانشناسی د علم موضوع او روش

د روانشناسی د علم منشاء او بنسټ هم لکه د نورو علومو په شان د انسان د کنجکاوی او ځیړنی د حس نتیجه ده هغه ځیړنی کوم چی انسانانو د خپل پوره پیژندنی او کاملی آشنائی په منظور کړی دی د اتحقیقاتو د دی باعث شول چی طبیعی علوم لکه د فزیك علم د نجوم علم او زیست شناسی علم په وجود راغلل کنجکاو انسان کله چی د خپل ځان د پیژندنی په هکله راوګرځیدی نو د روح فلسفه شروع سوه. او د روح فلسفه ورو ورو د روانشناسی په علم بدله شوه.

د ابتدائی قبیلو د مطالعی په اثر کوم چی اوس په نړۍ کښی وجود لری، شاید و کولای سو چی د خپلو اولینو نیکه ګانو د فکر په طرز څه ناڅه و پوهیږو نو په هغه صورت کښی ویلای شو چی د هغه شیانو چی زموږ نیکه ګانو به ئی سوچ کاوه هغه د خوب لیدو پدیده وه. هغوی په تعجب کی وه چی څرنګه دوی د خوب په عالم کی لوی لوی سفرونه کوی او په جنګو کښی پردښمنانو بری مومی همدا سی د بیداری عالم هم خپلی شګفتګانی درلودې. مثلاً دځانه څخه به ئی تپوس او پوښتنه کول چی کوم شی زموږ د ستر ګو له دننه د باندنی شیان وینی، یا یی د غوږ پواسطه اوری او یا ئی د پوست په واسطه لمس کوی؟ څه علت دی کله چی سړی کوم شی چی نه غواړی وئی کړی مګر کوی یی؟ کوم عوامل دی چی انسان د جنګ په وخت کی که څه هم په دی هڅه کښی وی چی شجاع و اوسی پـه لرزه ئی راولی؟ ولی انسان ناګهانه د فعالیت څخه لویږی او نور حرکت نکوی؟

ډیرو پخوانی انسانانو د خپل ساده او ابتدایی تفکر په اساس ځینی ځوابونه و پورتنیو مسائلو ته پیدا کړی، هغه داچه دوی دا سی فرضی اټکل کاوه چی په انسان کښی د ننه بل انسان ځای لری چی هغه غیر عادی او نامرئی دی چی بیله د خوب او مړینی په وخت کی نور وختونه د تن په زندان کی زندانی وی. د هغوی پـه فکر روح او یا نفس همدغه نامرئی انسان دی کوم چی دده پخپل وجود کښی د ننه وجود لری اما د اتوجیه یو صحیح استنباط نه ؤ، ځکه ده (د ننني انسان فرضیه) تازه مشکلات او لوی سوالونه منځ ته راوستلی اکثره او سنی علمی تصورات د روانشناسی د علم د موضوع په هکله د باستانی یونان د علماء د فکر زیږ ندوی دی. هغه څه چی غربی اروپائیان (پسکولوژی) یا (سایکالوجی) بولی د یونانی کلیمو (Psyche) یعنی نفس (روان) او (Loges) یعنی ګفتار په معنی دی، چی ور وسته یی (د نفس د تحقیق، مفهوم واخیست او د نفسانی حکمت موضوع وګرځیده.

هغه څه چی موږ ئی نفسی بولو د هغو، یونانی حکیمانو په نظر انسانی دم او یا هوا او ورته شبیه وه. د نوموړی په نظر د غی مادی په تن باندی حکومت کاوه. افلاطون (۳۴۷-۴۲۷) د عقلی کلیاتو له قوی څخه بحث کوی چی د هغه په نظر ئی د انسان له ذهن څخه مجزا، جدا، او مستقل وجود درلود.

اما د ارسطو اعتقاد (۳۸۴-۳۲۲) د او سنی علمی اعتقاداتو ته نژدی تر ه دی. نوموړی پدی عقیده و چه نفس یوازی او یوازی د تن د عکس العمل څخه بل څه ندی. ارسطو به ویل مثلاً که فرض کړو چی ستر ګه جاندار ده نو هغه وخت ویلای شو چی لیکل د هغی د نفس څخه عبارت دی او حقیقت دادی چی لیدل بل څه ندی بیله هغه عمله چی ستر ګه ئی انجامه وی.

د ارسطو په نظر د نفس او تن

د (۹ مخ پاته)

د روانشناسی...

ارتباط هم همدا شانی دی. دهغه منظور داؤ چی د نفس او دهغه د کارو د پیژندنی د پاره باید تن دهغه اندامونه او همدارنګه دهغوی عکس العملونه په ډیر دقت سره مطالعه کړو. ارسطو د ذهنی تصورا تو په هکله هم بحث کړیدی اما دهغه په نظر دغه تصورات د محیط له تأثیر څخه پرتن باندی حاصلیږی.

هغه پدی مفکوره ؤ د چی محیط اشیاء د حس آلات تحریك کوی او دغه د حس آلات د دغه تحریك اثر و قلب ته استوی او دغه تحریکات په زړه باندی چی تأثیرات اچوی هغه ذهنی تصورات دی دغه تصورات یو د بله سره ترکیب کیدای سی او زموږ د اګاهی او خبر تیا منشاد خارجی جهان څخه همدغه تصورات دی چی زموږ په رفتار باندی حکومت کوی.

د ارسطو دا عقیده چی نفس د بدنی جریانا تو عکس العمل څخه عبارت دی، ډیر لوی او مهم ګام ؤ چی د روانشناسی د علمی کولو په ساحه کی اوچت شو. نامرئی د ننني انسان د علمی مطالعی او تحقیق وړ نه وه همدارنګه تصورات هم د انسانی ذهن څخه د باندی تر مطالعی لاندی نشوای راتلای، لیکن په ډیره آسانی سره دا ممکنه ده چی د بدن فعالیتونه تر مطالعی او څیړنی لاندی ونیول شی او دهغوی ارتباط د تن د ساختمان او دهغه دا عضاؤ د وظایفو څخه څرګند او پیدا کړو. د دې تحقیق راتلونکی نتیجه دا وه چی کشف شوه چی څرنګه هغه عضوه چی د انسان پر تجربی او اعمالو باندی حکومت او د خلت لری هغه مغز دی نه زړه. او زړه بیا د ژوند مرکز او حکم فرمادی و ینو کومه لار چی ارسطو پیشنهاد کړه نور نو لازم نه ؤ چی د انسان د پیژندنی لپاره د انسان څخه لیری ولاړ سو. د دی تجربو په نتیجه کی ټولو خیالاتو انسان په باره کی خپل ځان و تحقیق ته د انسان د ارګانزم په باره کی پریښود.

د (۸ مخ پاته)

اعلیحضرت احمد شاه بابا

د دی خاوری غیرت منو کله د مدافعی په ډول او ګاهی په تعرض سره د هغو قوماندانانو او لوړو شخصیتو تر لارښوونی لاندی د سرښندنی او ځان جارولو رمزونه زده کړی او د غیرت نه ډك افتخارات ئی د ملی نوامیسو د ساتنی او د نن ورځی د زامنو د پاره د یادګار په ډول پری ایښی دی.

د دی د پاره چی مضمون او ږد نه شی شاه محمود شاه اشرف، احمد شاه بابا او نور غیرتمن چی پورته ذکر شول د هغو پښتنو څخه دی چی هر یو ځانته روښانه تاریخ لری د انجیب ټبر د سکندر، چنګیز او نورو متجاوزینو سره د مدافعی په حال کښی ټینګ ولاړ وه او د ذکر شو ولوړو شخصیتو د جملی څخه سلطان شهاب الدین غور، ی او سوری شیر شاه هم شامل دی چی د تاریخ په پاڼو کی ئی نومونه ثبت او روڼ ښکاری

د دی غیور ملت د انحطاط په دوره کی غازی وزیر فتح خان، وزیر محمد اکبر خان، غازی سردار سلطان محمد خان او د اعلیحضرت شهید محمد نادر شاه غازی تر لارښوونی لاندی د دی پاکی خاوری ساتنه کړی او نه ده پری ئی ایښی چی کمه کوچنی ټپلی د دی غښتلی قوم پر مخ پاته سی او د افغانانو د ښمنانو ته ئی د اښکاره کړه چی د دوی موجودیت هیڅوك د منځه وړای نه شی.

د دره نوروال په قلم

په کلیوالی سیمو کی دولور ملاماتونکی پیټی

ولور زموږ د اولس د ناوړه دودونو څخه یو دود دی چی د ډیری پخوانی زمانی څخه ئی زموږ په اولس کی رواج موندلی دی چی دغه ناوړه دود دیوی خوا بشری کرامت پایمالوی د بلی خوا د زیاتو کورنیو د بربادی او پریشانی سبب گرځی .

زمانه ورځ په ورځ تغیر کوی نوی عصر موږ مخ په وړاندی بیایی نو موږ ته لازمه ده چی په خپل عمل او فکر کی اصلاحی بدلون راولو او د اسلام په چوکاټ کی د اوسنی عصر د ټولو تحولاتو او معنوی پرمخ تګونو څخه د ځان او ټولنی په ګټه کار واخلو .

د بده مرغه دولور ناوړه دود تر اوسه پوری زموږ په اولس کی رواج لری په تیره بیا په کلیوالی سیمو کی دولور ملاماتونکی پیټی ډیری کورنی د پریشانی او دربدری سره مخامخ کړی دی دا ځکه زموږ د هیواد په کلیوالی سیمو کی پر لوړو ولور اخیستل عنعنوی بڼه غوره کړی ده او د واده بی ځایه سیالداری او زیاتو لګښتونو زموږ فردی او اجتماعی ژوند ته زیات معنوی او مالی زیانونه پیښ کړی دی په کلیوالی سیمو کی پر نجونو ولور اخیستل د انسانی کرامت او اجتماعی عدالت په خلاف دی د پیسو په بدل کی نجلی بی له خوښی او رضا د یوه حیوان په څیر خرڅیږی .

کوم کسان چی د علمیت او پوهی سویه یی ټیټه او د اسلام د مقدس دین د ستر وارزښتونو څخه بی خبره وی نو هغوی بشری کرامت ته هم په احترام او ارزښت قایل نه دی او تر پیسو پوری د خپل خوږ اولاد آینده ژوند ته هیڅ فکر او پاملرنه نه کوی چی د دوی دغه ناوړه سلوک ډیری کورنی د بربادی او تباهی کندی ته اچولی دی په کلیوالی سیمو کی د لوړو ولور اخیستل افتخار او شتمنی بولی او د هرچا د لور یا خور ولور چی زیات وی نو د هغو بیا د سیالداری او واده مراسم او لګښت هم درونډ وی .

په کلیوالی سیمو کی اصطلاح داسی ده چی لومړی ورځ د نجلی د غوښتنی د پاره مرکه لیږل کیږی چی زیاتره وختونه د نجلی مرکه یو اځی نارینه وی نجلی لیدلای نه شی چی رنګ ئی څنګه او یا عمر ئی څومره دی یو اځی د نجلی د پلار اکا یا مشرورور سره د مرکی خلک خبری کوی .

پخپله نجلی یا مورته ئی پدغه مهمه او حیاتی مسئله کی د مشوری موقع نه ورکول کیږی هر وخت چی دولور پر پیسو د دواړو خواؤ موافقه راسی بیا نو د نجلی د غوښتنی کسان خپل کور ته ځی او دولور د پیسو نیمی یا دریمه برخه برابره وی د نجلی خپلوانو ته احوال ورلیږی او د نجلی خپلوان خپل نژدی دوستان دغه محفل ته رابولی .

پدغه وخت کی نو د نجلی دور کړی مراسم داسی پر ځای کیږی .

د زوم پلار یا اکا د خپل مسجد ملا یا د کلی د ملک سره د نجلی کور ته ورځی د ډوډۍ خوړلو نه وروسته د دسمال ورکولو په ترځ کښی چی په کلیوالی سیمو کښی ئی

(نور په ۱۳ مخ کی)

احمد شاه (سپر)

اجتماعی :

دفکر تکامل

دفکر دقوی اصلی منبع او مرکز د ماغ دی او د ماغ یوه پرله پیچلی ماده ده چی په سر کی ځای لری او فکر د هم هغی مادی محصول دی .

فکر هم د نور بدن په څیر تقویه کیږی او هم ضعیفه کیږی دمثال په توګه دفکر تقویه کیدل په دی پوری اړه لری چی په څو مره اندازه سره دغه قوه پکار لویدلی او زیات کار ځینی اخیستل سوېدی .

لکه څرنګه چی نور وجود دسپورټ یا کسرت په سبب تقویه کیږی او دبدن عضلی قوی کیږی همدا ډول دماغ همد دډیر پرکټیس او استعمال په سبب دنور بدن په څیر تقویه کیږی نو که موږ وغواړو چی د دی قوی څخه په ژوند انه کښی ښی نتیجی او ثمری لاس ته راوړو داراته لازمه ده چی په شیانو کښی زیاته پلټنه او تجسس وکړو چی دغه پلټنه او تجسس د فکر په کار اچول او دهغه تقویه کول دی .

البته ډیر خلک به داسی موند شوی وی چی فکر ئی ویوی ناوړی او لړلی خواته سوق شوی دی او ددی قوی څخه لکه څرنګه چی لازمه وی کار نه سی اخیستلای خو بیا هم ویوی مثبتی یا منفی لاری ته دفکر دقوی سوق کیدل تر ډیری اندازی دیو چا په عزم ، اراده او هغه شرایطو پوری اړه لری چی دی ئی ودی لاری تورکش کړیدی د فکر قوه یوه داسی قوه ده چی که مثبتی لاری ته سوق سی .

د مقدسو او پاکو وظیفو په لار کښی په کار واچول سی د دی قوی څخه داسی نیکمرغه او ښی نتیجی لاسته راځی چی دوګړو د شخصی او اجتماعی ژوند لپاره ګټوری ثابتیږی او همدا ډول که چیری دغه قوه منفی خواته ورکش سی او په دی خوا کښی په کار لویږی او د مضر و اعمالو په چوکاټ کښی ولویږی حتماً ئی نتیجی هم دومره منفی وی چی هغه وکړی و شخصی او هم اجتماعی ژوند ته مضر تمامیږی .

د فکر قوه یوه داسی قوه ده چی د هغی څخه دعلمی استفادی په اساس بشر د ډیری هوسائی او استراحت وسایل را غونډ کړی او هم ئی دراغو انډولو په تلاش کی دی .

د مثال په توګه نن ورځ بشر د خپل فکر د پکار اچولو په رڼا کښی برق اختراع کړی ، بی سیم تلګراف ئی جوړ کړی

نور په ۱۳ مخ کی

د ۱۲ مخ پاته

دفکر تکامل

او نور زیات کشفیات ئی په برخه شویدی او نور هم داهیله زیاته موجوده ده

چه بشر به ددغی قوی په مرسته یقیناً هغسی شیان کشف کړی چه ټول مخلوقات

به ئی وشکل او فعالیت ته حیران پاته وی.

دفکر تکامل او پر مختګ ټاکلی اندازه او حد نلری

بلکه په ټولو وختونو کښی دفکر تکامل په نسبتی توګه موجود او د تاریخ په هره-

دوره کښی د انسانانو افکار تر پخوانی دوری مترقی او تکامل ته رسیدلی وی.

خو بیا هم ددغه تکامل د څرګندو لولپاره زموږ په مخ کښی یو معیار موجود دی

چه د هغه په مرسته موږ د یوه انسان او یا نوی ټولنی دافکارو د تکامل سطحه

معلو مولای شو چه البته هغه معیار هم د اوسنی ساینس او تکنالوژی سطحه

ده موږ ئی د یوی ټولنی او ټولنی په منځ کی نسبتی توپیر څرګندولای شو او ددغه توپیر د څرګندیدو په

د ۱۱ مخ پاته

په کلیوالی سیمو کی....

ټنی بولی دو لور پیسی د خلکو په مخ کښی د نجلی پلار ته ورکول کیږی زموږ په کلیوالی سیمو کی دولور د پیسو لوړه اندازه شپیته زره افغانی او ټیټه

اندازه ئی دیرش زره-افغانی ده.

دلته دیادونی وړ خبره او زموږ اصلی مطلب دادی چه دیوی خوا زموږ په اولس کی دولور ناوړه دود او ملامتونکی پیټی زموږ د

ټولنی زیاتره کورنی د پریشانی او دربدری سره

اثر داهم روښانه کولای سو چه د دغی ټولنی د وګړو افکار تکامل کړی او یا نه دی کړی؟

دانسان او حیوانی جهان تر منځ د توپیرونو څخه یو توپیر دادی چه انسان کولای

سی په شیانو او پدیدو کی فکر و کړی و دهمدغه فکری استعداد له مخی د

خپل ژوند د پاره ښه زمینه برابره کړی.

مخامخ کړی دی او د بلی خوا زموږ په ولس کی د نجلی په دی ډول ورکول یا غوښتل هم د ننني عصر او زمانی دایجابا توسره زیات توپیر لری کوم کسان چه

دخپل اولاد راتلونکی ژوند نه سنجوی او مطلب ئی یوا ځی داوی چه پرلور ولور واخلی

نو داسی کسان په حقیقت کی بشری کرامت تر پښولاندی کوی او د انسانی کرامت او حقوقو څخه سترګی پټوی او دخپلی ګیډی دډ کولو له کبله پر خپل ګران اولاد باندی ظلم کوی نو داډول کسان کوم چه د خپل اولاد په سرنوشت لوبی کوی او حقوق ئی تلف کوی دلوی خدای (ج) او خلکو په نزد سخت مسئول ګڼل کیږی.

نو راسی چه ددغه ناوړه دود څخه لاس وا خلو او په دی ډول خپل فردی او اجتماعی ژوند دمادی او معنوی زیان څخه وژغورو

بینوا

نوی مهال دی

غوټی مسیږی

ښه روڼ پسرلی دی غوټی سوه سپڼه — دمینی ږغ ځی له هره بڼه
پر څانګر زانګی ژړه خاچڼه — په مشو که موږی دوزر بڼه
نوی مهال دی غوټی مسیږی
نوی اوبه دی نوی چڼیږی

ډکې ولې ځی سوروسپین بڼ دی — د ښو خاچڼو باندی اتڼ دی
سیوری دونو پر مځکه ګڼ دی — کډی دچڼو بیا سره پڼ دی
زر غونی ونی پاڼی رپیږی
نری وږمونه راپورته کیږی

بوراله منی څخه ډېر ژړلی — بڼ وال بی ولی پرولی ولی
پرونو شنی دی ونی دولی — تراو بولاندی ښکاریږی ولی
مینه دمینی ده څرګندیږی
مین مینه سره جاریږی

تالی سویه سوی ځلیږی مځکی — غاټوی تګ سور سوشنی دی ټاټوکی
توری کږدی شوی پر رغو لکی — کږی وږی ځی پیغلی په تله کی
وری سپین میږی سره ګډیږی
پریزن ورو وروځنی اوړیږی

زر کو ښکاره کړې بیا سری مشو کی — ککړ ککړ کړی تل وهی کوکی
څو کر یو ډک کړل دځان مډو کی — دلمر وړانګې دی دغره په څو کوی
پاس پر ډبرو شیلی شړیږی
زر کی پسونه باندی اوبیږی

پسرلی هغه دی چه ځان یی خپل وی — څوک په څه خاندی چی اړ دبل وی
دده هیڅ نوی دنور شل وی — نه ئی پوهنه نه ئی اټکل وی
پسرلی هغه دی چی پښتون ویښ شی
دلمر په څیر ئی پر نړۍ بریښ شی

پسرلی هغه دی چی پښتون لوړ وی — په پښتنوالی پښتون نومړی وی
غلیم ئی لاندی تل تر څپړ وی — سر ئی په وینو پسته خپړ وی
دجار جار ږغ ئی پر مېنه کیږی
اویو په بل به سره خوږیږی

غروال

سپین ذنبق

سهار دوخته ماهی ګیرانو د یوی ښکلی پیغلی پیکر ولید چی داوبو موجو هغه په خپل غیږ کی نیولی وو آیا په هغه وخت کښی هغه ناپیژندونکی ښکلی پیغله له کومه ځایه راغلی وه چی د بینوا او بیچاره او بازانو څخه ئی قبر او ګور غوښت آیا دا ښکلی پیغله یا (د قدرت ارمغان) په هغه دریاب کښی په کوم حظ دوچاره سوی وه د دې پیغلی ګوتو کښی حلقه نه وه دار نګه پیغله مړه او لڅه دی پیغلی غیرد دریاب له موجونو څخه بل شی په تن کی موجود نه درلود. کښتی وان او او بازان د خپل کلی په منځ کښی د ښه کفن په لټه رهی سول چی د ښکلی پیکر په هغه سره اراسته کړی د ښکلی پیغلی د تابوت د پاره ئی د سپین ذنبق یو ګیډی جوړه کړه د ښکلی پیغلی داور بل لپاره ئی یوه ټولی دریابی نجونی راټولی کړې او د هغو میندی ئی د ژړا لپاره وګمارلی.

د سروریګو په منځ کښی ئی د دې ناکامی پیغلی بستر وغوړاوه چی د دې د بدبختی د علامو د پاره پر قبر واښه شنه نشی مګر هغه ګلونو چی مهر او عاطفه ئی درلوده د دریاب په خوږ واوبو د سروریګو په منځ کښی د ښکلی پیغلی پر قبر راشنه سول د هغو ګلونو په منځ کښی تر ټولو ګلونو یو ډیر رنګین او ښکلی ګل د ناکامی پیغلی پر مزار وځلیدی ښکلو پیغلو تاسی زموږ د زړونو مچی یاست او عسل مو هغه پاک عشق دی چی وموږ ته ئی رابخښی.

راشی دا د سپین ذنبق ښکلی ګل وګوری د هغه ګل تخم آسمانی فرشتو د ناکامی پیغلی پر مزار پاشه.

راشی دا ګل بوی کړی دا ګل دماغ و آسمانونو ته پورته کوی.

*****

دشم ژړا

دشم او ښکلی چی را اوری هر ماښام د غم انګڼ ته
له حسرته ډک پیام دی، رسوی ئی مړه پټن ته
هغه توښ چی می پری نه کړی، وزر توی، سوی نامراد
اوس هغه زما قاتل شو، واک می خپل د ځان بلاده
په ویلیږمه بهیږمه په ورو ورو می بیائی خاک ته
چی پری بل کمواکه کیږی واک دی نه وائی هاواک ته

د محمد حسین (رحیمی) ترجمه

د امریکا د ازادې مجسمه

د امریکا د ازادی مجسمه چی یو لوی هنری اثر دی د امریکا خلګو ته زیات اهمیت لری د امجسمه چی ۳۰۰ متره لوړه او یو اځی ۲۰۰،۰۰۰ پونډه مس پکښی کار سوی دی یعنی څلویښت کسه کولای سی چی په سهولت د هغی پر سر ودریږی. مجسمه لوړه ولاړه ده او یو لوی مشعل ئی په لاس کی نیولی دی چی د خورا لیری ځایه ئی خلګ لیدلای سی.

د امجسمه د ۱۸۸۶ کال په ۱ اکتوبر کی د فرانسی خلګو د امریکا خلګو ته اهدا کړه د مجسمی طرح او ډیزین (اف ګوستی بارتولودی) فرانسوی کړی او د نیویارک د بندر په کښتنی برخه کی پر جزیره ولاړه ده چی په بحر کی د خورا لیری ځایه ښکاریږی په عمومی صورت د امجسمه د ټولو آهنی مسی او ډبرین موادو سره ۲۲۵ ټنه درونډوالی لری.

د مجسمی اصل قیمت ۲۵۰،۰۰۰ ډالره تخمین سوی او په بحر کی د هغی د دریدلو له پاره چی په ځای جوړولو کی کوم مصرف شوی دی د هغه تخمین ۳۵۰۰۰۰ ډالر وته رسیږی په ۱۹۱۶ کال کی د مجسمی ټول اطراف په څراغونو روښانه سول د مجسمی تر سر پوری ۳۶۰ زینی پورته کیږی د مجسمی د اوږی څخه د لاس تر سر پوری هم تقریباً ۴۵ قدمه نور لوړوالی لری

د محمد حسین شیخ زاده خزاعی په قلم

علامه الحاج شیخ محمد طاهر کندهاری

علامه شیخ محمد طاهر کندهاری هغه عالم ؤ چی محبت ودوستی ئی وحقیقت ته د پیژندنی لار بلله د ۱۳۴۹ لمریز کال د سلواغی

دمیاشتی په ۳ نیټه د ۱۳۹۰ قمری کال دذی القعدة الحرام دمیاشتی په ۲۵ نیټه په داسی حال کی چی دحق طالبانو اودحقیقت دلاری

سالکانو دلوی خدای په درګاه کښی په دعا او مناجاتو سره شپی تیرولی راز او نیاز ئی کاوه دختیځ دعلم

ادب او تقوا په آسمان کی ځلانده ستوری دغه غښتلی عالم علامه زموږ له نړۍ څخه دتل لپاره سترګی پټی کړی .

دغه پیاوړی ستر ادیب او نامتو پوه استاد علامه شیخ محمد طاهر کندهاری ؤ چی داسلام د سپیڅلی دین حقایق ئی دپاك قرآن له مخی ښوول او دمسلمانانو یوالی دوستی او محبت ئی درښتین ولی په اساس د کندهار په تاریخی مځکه کښی خپاره وه .

رښتیا داده چی دی لوی مجاهد دموهومو اختلافونو او مجهولو ناوړو دودونو دمنځه وړلو په لاره کی په لوی جهاد باندی پیل کړی او دتبلیغ درنه او مقدسه وظیفه یی په ښه توګه پای ته ورسوله دبی ځایه ځان ښود نی

مرحوم (شیخ محمد طاهر) کندهاری

او بی عمله وچ علم پر مخ ئی څادر وغوړاوه .

ددی ځای دمسلمانانو په زړونو کی ئی دیووالی اوورورولی زړی وکرل .

کوم ځای ته چی ددغه خدای بخښلی پوه پښه ورسیدله په علمی دلایلو او تبلیغ سره به ئی دخلکو ترمنځ دمینی اوورورولی مزی ټینګی کړی .

دهیواد په دننه او د باندی په بیلو بیلو وګړو کی محققین ددغه خدای بخښلی علامه ډیر علاقه مندان وه چه دهغو له جملی څخه مولوی حاجی شرف الدین اخندزاده

مرحوم خطیب اخندزاده او مرحوم غلام محی الدین اخندزاده او نور پیاوړی پوهان او عالمان وه .

همدغه شان دهرات دښار دعلمی او ادبی عالمانو څخه مرحوم حاجی سید فضل الله او مرحوم استاد مولوی عبدالغفور پایهار او مرحوم زاهد خطیب صاحب دجامع جومات امام

غلام رسول مرحوم ملا محمد صدیق اخندزاده ددغه مرحوم شیخ محمد طاهر د علاقه مندانو څخه وه .

دغه پوه استاد نه یوازی په هیواد کی دننه ارادت مندان درلودل بلکه تر هیواد دباندی لکه ایران ، عراق شام او افریقا کی هم دده علاقه مندان ډیر وه .

دنوموړی شیخ خصوصی ناسته ولاړه دپوهنی او روحانیت دخاوندانو سره وه چی دادب فلسفی او

الهیاتو ښودنه به ئی ورته کول او له همدغه کبله د هرات د عالمانو له خواده ته د رسمی استادۍ پیشنهاد وړاندی شو خو ده ونه مانه د دغه لوی عالم سره د وطن مینه دومره ډیر ود چی ویل کیږی دی د خپل حج د فریضی دادا کولو په لار کی دالشیخ عبده محمد جید

السودنی سره ملګری شو هغه غوښتل چی ښاغلی شیخ په سوډان کښی پاتی شی د فیض ښندنه وکړی او په مقابل کښی هر څه چی د ده غوښتنه وی ورته برابره کړی خو شیخ صاحب د هغه په جواب کښی وویل په نړۍ کښی

هیڅ شی تر خپل وطن ندی را باندی ګران په هیڅ شان او هیڅ بیه د وطن نوم له ځانه څخه نه جلا کوم .

مرحوم استاد به هر کله اخلاقی اجتماعی دینی او اصلاحی وعظونه کول او د لوی خدای [ج] د کتاب سره سم ئی تبلیغ کاوه .

د دغه استاد ډیره قوی حافظه وه چی د وینا په وخت کی ئی ډیره مرسته ورسر کوله او د ښه وینا او قوی منطق خاوند ؤ .

استاد به خپلو ملګرو ته تل داسی خطاب کاوه :

بیځایه تعصب د خپلو مغزو څخه وباسی او د هغه پر ځای مینه او محبت ته مخ کړی دا ځکه چی مینه او محبت په زړو کښی نور او روڼالا زیاتوی .

مرحوم علامه د رحوم نصرالله زوی او د مرحوم علی ګوهر کندهاری لمسی ؤ چی په ۱۳۱۹ قمری هجری کال د کندهار په تاریخی ښار کښی زیږیدلی او په ډیر کوچنیوالا کښی ئی پلار له لاسه ورکړی ؤ .

دی د پوه غلام علی نومی سړی سره شاګرد ؤ چی نصاب الصبیان ئی هلته پای ته ورساوه په ۱۳۳۳ کال کښی د تحصیل لپاره ایران ته ولاړ او تر هغه ورسته ئی بیا د تحصیل لپاره عراق ته سفر وکړ

ده د هغه ځای د لوړو پوهانو څخه علم زده کړ او د ۱۳۵۲ قمری کال پوری ئی ادبیات حکمت الهیات ، د اسلام فلسفه او د پاك قرآن تفسیر او زده کړی ته ئی دوام ورکړ چی د تحصیل دوره ئی په شلو کلو کښی پای ته ورسیدله .

تر تحصیل وروسته بیر ته خپل ؤ طن ته راغی او په کندهار کښی ئی په خپل وعظ او نصیحت باندی پیل وکړ او ډیر شاګردان ئی وروزل .

له بده مرغه په ۱۳۲۹ شمسی کال په دماغی نارغی اخته شو او څو ځله د هیواد په دننه او د باندی کښی تر علاج لاندونیول شو په ۱۳۳۷ شمسی کال کله چی له بغداد څخه هرات ته راغی د هغه ځای علم پالونکی خلک د ده د تدریس څخه بهرمندوو .

په ډیره خواشینی سره مو د سلواغی د میاشتی په ۴ نیټه واوریدله چی علامه شیخ محمد طاهر د دی فانی نړۍ څخه سترګی پټی کړی .

د دغه علمی شخصیت مړینه د هیواد د علم دوستو خلکو د ډیری خواشینی سبب شو موږ د دی لوړ شخصیت روح ته دعا کووا و د لوی خدای (ج) له دربار څخه د ده لپاره د رحمت غوښتنه کوو .

ټاګور د بیلتون درد

دا د بیلتون درد دی چی په ټول عالم کښی خپور دی او هم دا درد دی چی په غیر محدود آسمان کی په بیشماره شکلو څرګندیږی .

دا د جدائی غم دی چی تمامه شپه یو ستوری بل بل ستوری ته خاموشانه ګوری او د جولائی د باران په توره د ربله کی رپیدونکو پاڼو تر منځ بدله ځنی جوړیږی .

دا خپور شوی درد دی چی عمیق شی نو د مینی په آرزوګانو تبدلیږی او انسانی ځانو کښی تکلیف او مسرت پیدا کوی ، او همدا درد دی چی د شاعر له زړه نه یو سو ځوونکی لحن او سوی نغمه را باسی .

د پخوانیو مصریانو د عقایدو نمونه

مترجم ن «نیازی»

د نیل ناوی

د مؤرخینو یوه ډله د نیل درود د ناوی یوه حیرت ناکه قصه داسی لیکی :-

چی پخوانی مصریان د ځینو عاداتو او عقایدو پابند وه چی اکثرو به ئی د نیل د وفا ورځ چی د اورځ ئی د مذهبی عاداتو څخه یوه ورځ بلل کیده تر اجرا لاندی نیوله دا رسم او رواج په پخوانیو قصو کښی د (نیل د ناوی) په نامه یادیوی.

د نیل د وفا په ورځ به ئی ډیر ښکلی پیغله چی د بهترینو او وتلو نجونو څخه به وه په ډیر ښه صورت آراسته کړی او د (نیل د ناوی) په نامه به ئی د نیل د بی پایانه دریاب و خروشانه څپو ته ورکوله.

د ځینو مؤرخینو په زعم دی نابود عادت د روما د امپراطور قسطنطین تر زمانی پوری دوام درلود او د هغه د لغوه کیدو او باطلیدو په باره کی امرونه هم شویدی مگر د عربو د مؤرخینو د روایاتو څخه معلومیږی چی دا

عادت او روش د مصر فاتح یعنی د حضرت عمرو عاص (رض) تر زمانی پوری جاری ؤ، وائی یوه ورځ د مصر قبطیان د حضرت عمرو عاص رض په حضور راټول شوی وی ویل :

ای امیـــــره د نیل جاری کیـــــدل زموږ یوه طریقه او عادت دی که هغه نه وی جاری کیدل ئی غیر ممکن، دی امیر وویل څنگه عادت دی؟

دوی وویل کله چی میاشت لومړی هفته کړی او ۱۲ شیو سی موږ یوه چته او ښکلی پیغله مومو او وروسته په داسی صورت چی د هغی د مور او پلار رضائیت حاصل کړو هغه نجلی د ناوی توب په ښو کالو او سنگینو زیورو آراسته او د نیل دریاب ته ئی وړاندی کوو عمرو عاص (رض) ورتـــــه وفرمایل په اسلام کښی بدعت نشته اسلام د خپلو ټولو پخوانیو بدو او ناوړو عاداتو رسوماتو اساس او بنسټ وران کړی دی خلگو تر ۴ میاشتو انتظار ویوست او نیل هم هیڅ جریان و نه موند څو د نیل وسیمی نه نژدی خلك فراره شول او ځایو نه ئی پری ښوول کله چی حضرت عمرو عاص (رض) له دی واقعی څخه خبر شو ټوله کیفیت او واقعه ئی د اسلام و دوهم خلیفه حضرت عمر (رض)

ته عرض کړه حضرت عمر (رض) دده په جواب کی ورته وویل ډیر ښه کار دی هو اسلام پخوانی غیر اسلامی اساس ټوله وران کړی دی او دادی لیك می درواستاوه کله چی درورسید د نیل و دریاب ته ئی واچوه د حضرت عمر ته (رض) فرمان و حضرت عمرو عاص (رض) ورسیدو ختی چی پاکټ ئی خلاص کړ او لیك ئی ولوست داسی لیکل شوی وه :

د عبدالله امیر المؤمنین له خوا د مصر و نیل ته که چیری تر دی وروسته ته په خپل میل او خواهش رفتار وکړی نوزه بیا تا ته حاجت نه لرم که جاری کیدل دی د پاك واحد او قهار خدای (ج) په حکم دی نوزه د هغه قادر خدای (ج)

څخه خواست کوم چی تا جاری کی خلاصه د مخه تر هغه چی د مصر خلك له خپل وطن څخه وتښتی او تگ ته آماده وه حضرت عمرو عاص (رض) پورتنی لیك د نیل و دریاب ته واچاوه په داسبا چی خلك په شنه سهار له خوبه څخه را کښنیستل وئی لیدل چی پاك او قادر خدای (ج)

نیل په یوه شپه کښی ۱۶ گزه او به پورته کړی او او به په ډیر شدت سره جریان لری د ښار خلك ټوله خوشحاله شول او تر هغه وروسته ئی د نیل د وفا ورځ او خپل نور بد رسومات او عادات ترك وهل.

د حفیظ الله «صائم» لیکنه او ټولنه

د پښتنو تعاملي حقوق

جرګه

جرګه په پښتو کی هغی مهمی غونډی او ټولنی ته وائي چی دیو قومی مشوری یا د قانون د عملی کولو د پاره راغونډیږی .

پښتانه له خورا قدیمه وخت څخه په خپل منځ کی ملی قانون او جرګی لری، چی دا تنظیمه قوانین وخت په وخت د پښتنی جرګو له خوا تثبیتیږی .

دا قوانین ټول پښتانه خورا محترم ګڼی .

او کوم نااهله پښتون چه د هغو څخه غاړه وګرزوی ټول اولس بدور ته وائی او لوی دښمن ئی بولی .

په اوسنی اصطلاح سره د پښتنو جرګه هم د پاخه قانون حیثیت لری او هم اجرائیه او قضائیه قوه د دوی په لاس کی وی .

د پښتنو پخوانیو مشرانو به ټوله قومی او اولسی پیښی آو یا د پردیو اولسو سره د خړی یعنی داخلی او خارجی سیاست او واقعات به ئی له همدی پښتنی جرګو په واسط سره حل او فصل کولی .

لکه چی حاجی میرویس خان نیکه د ټولو قومونو مشران راغونډ کړل او یوه لو قومی او واسی جرګه ئی دایرانیانو برعلیه جوړه کړه هغه ؤ چی خارجیان ئی آخر له خپل ګران هیواد څخه وایستل .

په جرګه کی سربیره پر مشرانو ځینی پوه کشران هم که لازم وګڼل شی شاملیدای شی .

خو د جرګی ټول غړی باید د قوم منلی شوی کسان وی چی څوک ئی له فیصلو څخه غاړه ونه غړوی او په امنیت او صداقت سره مشهور وی او خیانت سر نه وی ځینی وهلی .

په جرګه کی د یوه سړی نفوذ او اقتدار یوازی نه چلیږی بلکه هر څوک آزادانه رایه ورکولای شی .

جرګه بعضی وخت اوږده او بعضی وخت لنډه وی او هر څه چی په کښی حل او فصل شی ژر د عمل جامه اغوندی .

خو لنډه ئی دا چی پښتانه ټوله قومی او ولسی درنی پیښی د همدی جرګو په واسطه سره فیصله کوی .

مرکه

مرکه اکثراً د مشوری د مجلس او محفل په معنی او تعبیر راځی او ډیر وختونه لاد (جرګی) سره هم مترادفه کیږی .

خو د مرکی او جرګی دومره تو پیر دی چی جرګه عموماً تر مرکی مهمه او لویه وی او په قومی لویو کارو کی استعمالیږی .

کله مرکه د یوی ټولنی حیثیت پیدا کوی یا په بل ډول څیړنه سره د (ننواتی) د ډلی حیثیت لری .

مثلاً که د یو سړی د بل یوه سره څه د لاسه پوره په وی نو دی څوک سه سیدان، خانان، سپین ږیری

او د قوم مشران ور باندی مرکه کوی چی هغه د ده هیله او عذر و منی او د ده تر ګناه ور تیر سی او عموماً د کمزوری له خوا کیږی .

او که څوک لور یا خور لری پر داسی کسانو باندی هم مرکه کیږی چی لور یا خور د ده وزوی، ور ور یا خپلوانو ته ورکی .

لیکونکی رهبر فاروقی
د الماسو اصلیت او ماهیت

۶

مترجم عبدالقدوس [ن]

د کوه نور الماس

څخه د نوموړی قصی تفصیل ځنی وغوښت شهزاده چه ډیر کم سنه او دښو و بدو د تمیز وحدته نه وو رسیدلی ټوله واقعه ئی ټکی په ټکی ورته بیان کړه شاه شجاع چه د انګلیسانو ودربارته ځان ورساوه هغو خورا ښه دارومدار وزسره وکی او یو څه پیسی ئی دمیاشتی د معاش په توګه سره ور مقرره کړی.

رنجیټ ظالم هسی ظلمو ته لاس ورته کړی وو چه چنګیز — هلاکو، تیمور او حجاج مشهور وظالمانو به شمه دهغه نه وی کړی. په یوه تاریخ کښی لیکلی وه چه شاه شجاع د بند د محافظینو تعداد و څلورو سو وکسو ته رسیدی یو اځی د شپی په څراغ داری باندی ئی شل کسه مقرره وه وخوب ته به ئی نه پری ښووی او هر ساعت به ئی ایشولی نیل دده دمخه سره لګوله چه تو دوالی او ګرمی ئی دی بی طاقته کړی ګوندی مجبوره به شی هغه قیمتی یاقوت او نور الماس چه ور څخه وی رنجیټ ته به ئی ورکړی

رنجیټ دا نصمیم نیولی وو که سره له هومره زحماتو ئی قیمتی جواهرات را نه کړه نو په ډیر زحمت سره به ئی ژوندی او رته اچوم او ایری کوم به ئی او یا به ئی په یوه لوی او سپین قفس کښی اچوم او د خپل ناستون په پورته چت کښی به ئی وځړوم

دمخه ترتیښتی ئی لسو کسو جلادانو ته امر کړی وو چه سترګی ئی په چنګکانو سره وکاږی او لاسونه ئی ور پری کړی په ماکولاتو کښی به ئی هغه شیان ور کوله چه دانسان خوراک نه ؤ.

شاه شجاع څرنګه له بندی خانی څخه ووتی

شاه شجاع خوار چی په دغسی پریشانیو او زحمتو کښی شپی او ورځی سبا کولی دده په دغسی حال

دوستان او نور وفا داره نوکران پاخه وه او تل به ئی کوښښ کاوه چی ده ته د تیښتی اسباب مهیا کی نو هغه ؤ چی میر ابوالحسن نومی نوکر ئی نقبونه پیدا

کړی او پټ ئی تر ده پوری ورورسوله او بل وفا داره نوکر ئی چی حاجی رجب نومیدی دده په عوض کښی د بند ستونزی او زحمتونه

پر ځان قبول کړه یعنی دده کالی ئی واغوستله او پر هغه ځای باندی چی دی ناست ؤ کښینستی.

شاه شجاع بیا د نوموړی حاجی کالی واغوستله د نقبو په مرسته ئی ځان له بندی خانی څخه

راوایستی او د باندی ئی ځان دهندوانو د سادهو په ډول کی هغسی جامی ئی واغوستلی

مری ئی په غاړه کړی سر ئی د هغو په ډول جوړ او یو چوټی ئی د کلګی پر حد باندی پریښو دی ایری او خاوری ئی پر مخ باندی وپاشلی چی څوک ئی و نه پیژنی

لو به لکړه ئی په لاس کی واخستله د ابوالحسن خان او میر ابوالطالب خان په ملګری له ښاره ووت د لودهیانی پر لور رهی شو او

دراوی تر سند د پیسو په زور راپوری وتله ځانونو ئی په ډیر زحمت سره د ایسټ انډیا کمپنی ته ورسوله.

په ۱۸۳۹ عیسوی سنه کی چی لارډ آګینډ آمر ؤ انګلیسانو

روهی

ساینس او هنر

ځینی هنری کره کتونکی وائی چی دساینس او هنر ترمنځ تو پیر شته مگر دهغو ترمنځ خلیج نشته: هنر او ساینس دواقعیت دسکی دوه مخونه دی. کوم وخت چی دواقعیت پرمخ دښکلاوړانگه پر یوزی هنر تری جوړیږی. دهنر دغه تعریف هماغو مره چی زموږ آزروده ښکلی او په زړه پوری دی مگر آیا له تاریخی حقایقو سره هم اړخ لگوی؟ که هنر له واقعیت څخه څه زیات وکم ونه لری سپیره ساینس تری جوړیږی البته ځینی تاریخی ثراژیدی به استثناوی.

ښایی ځینی کسان اعتراض وکړی چی حتی دتراژیدی په لیکنه کی یوازی هغه څه انتخابیږی چی هنری ارزښت ولری لیکن دغه اعتراض واردنه بریښی ځکه چی ساینسی واقعیتونه هم دسوچ له لاری انتخابیږی ساینس یوازی دواقعیتونو له راټولولو څخه منځ ته نه راځی که څه هم ددغی واقعیتونو شمیر ملیون هاوته ورسیږی دلته یو (لاس) په کار دی چی واقعیتونه چاڼ کړی او ویی پیی کله چی موږ هنر وآیو ځینی داسی پوښتنی هم دسړی ماغزو ته ورلویږی چی ښه! د موسیقی او واقعیت ترمنځ درابطی موضوع اصلاً طرح کیدلی شی که نه؟ موږ به داومنو چی (کیو بیزم) دواقعیت دترسیم دپاره یو «علمی» هڅه ده مگر د (امپریسیونیزم)، (نیو-کریټی سیزم) او د (موډرنیزم) دځینو نورو ډولونو په برخه کی څه وائی؟ ممکن ددی پوښتنی یو ځواب په دی ډول وی هغوی چی دواقعیت ته بیانولو څخه تیښته کوی واقعیت تری ویل کیږی فقط په هماغه ترتیب لکه ادب چی له بی ادبه څخه زده کیږی البته داهم یو ډول ځواب دی.

راځی ء ددی موضوع یوه بل اړخ ته هم لږ څه توجه وکړو.

دساینس دپرمختگ لار تقریباً مستقیمه ده یوه خښته پر بله باندی خوودانی به انتهانه لری ساینسی واقعیتونه او نظرئی اصلاح کیږی عمق او وسعت ئی زیاتیږی. لیکن هنر یو سرکښ آس دی دزمان او مکان له خوا په اسانی سره نشی کیزه کیدلی. دلرغونی یونان بدیعی آثار وشکسپیر، دروس نامتو لیکوال لکه تالستای، چخوف دهنر لویږ څوکی ته ختلی دی، که ستاسی خوښه وی کولی شی ء چی داوسنیو لیکوالو موقعیت له هغو څخه ټیټ وبولی که تاسی له حافظ، بیدل، خوشحال خان او رحمان بابا سره علاقه لری ء ممکن و کولو شی ء داوسنیو شاعرانو په نسبت چی دسپوږمی دتسخیر په عصر کښی ژوند کوی هغو ته په فوقیت قایل شی ء مگر دساینس پوهانو په برخه کښی داکار نشی ء کولی یقیناً آینشتاین له نیوټن څخه زیات پوهیده

نور په ۲۳ مخ کی

[د ۲۰ مخ پاته]

دکوه نور الماس

پر افغانستان باندی حمله وکړه کابل او نورې مربوطی علاقی ئی ونیولی مگر پسله دؤ کلو څخه انگلیسان په خورا بدحال دافغانستان څخه ووتله.

پای

د «م، ا، ن» لیکنه

افغانی بدلو ته یوه کتنه

په اوسنی وخت کښی چی په عمومی نظر وافغانی بدلو ته وکتل شی نو په دوه ډوله بدلو باندی ویش قبلوی یو هغه عوامی بدلی دی چی له پخوا څخه زموږ دژوند په طبیعی جریان کی راغلی دی بل هغه مدنی بدلی چی تقریباً دمعاصر وهنرمندانو په آلحان ئی په زړه پوری زمزمی شروع شوی دی زموږ عوامی بدلی داسی مثالونه لری لکه پخپله یوشین شوی بوټی چی دروزنی لاس ئی نه وی خوړلی او هر ډول پرهرخواچی ئی وده کړی وی ودماحول له شرایطو څخه چی هر څه متأثر شوی وی خو دچا التفات کار نه وی پکښی کړی نو ځکه دغه ئی سبب دی چی په عوامی بدلو کی موله هر حیثه مرغوب او نا مرغوب آثار یو په بل کی اخښلی تر نظر تیریږی په دی دلیل چی دعوامی بدلو غلط او صحیح مودټوله او لس له استعداده څخه نشئت کړی وی او باید ددی دپاره چی داوسنی استعداده زمزمی و اقعی تاریخ مو پخپل اصلی شکل کی پاته شی نو لازمه ده چی دعوامی بدلو په هیڅ خوا مولاس ونه وهل شی او زموږ دنوی موسیقی په ساحه کی داسی وسائل شی لکه یوزوړشی په موزیم کی پر عوامو بدلو باندی تر ممکنی اندازې پوری باید له تنقیده ځان وژغورل شی ځکه که تنقید پر شروع شی او اصلاحات پکښی عملی شی نو ورو ورو هغه رنګ بایلی چی ددی سیمی دموسیقی تاریخی اړخ دی معرفی کړی زموږ په عوامی بدلو کی چی کتل کیږی او یا ئی ټوله نروښځی وایی نو داټکی پکښی یادو نه جلب وی چی اکثره بدلی چی موویل کیږی او څوک ئی دغزلو د معانیو وفهمولو ته چند انی التفات له ساتی او دغه ئی سبب دی چی اکثره عوامی غزلی موو کتل شی نو الفاظ ئی په زړه پوری نه وی او یا د کسرت استعمال په دوره کی ئی په مهملو کلماتو ځان اړولی وی: مثلا په کندهار کی (بابولاله) ویل کیږی خو څوک نه پوهیږی چی د «بابولالی» معنی څه شی ده په خپله «بابولاله» په پښتو هیڅ معنی نه ورکوی او که په تکلیفی ډول سره «له ببولاړه» یا نورو مشابه الفاظو څخه مقلوب شوی ونه ګڼل شی نو په خپل اوسنی شکل کی خو مهمل کلمات بلل کیږی.

په عوامی غزلو کی همدارنګه په ملتفت ډول سره څوک چندانی ددی خبری رعایت نه ساتی چی دبزم او رزم بدلی پرخپل محل ووائی او یا دمناجات او خرابات بدلی ئی پر خپل ځای وی او یا غم وښادی په بدلو کی سره جلا کړی بلکه هر څه چی هر چا هر چیری وویل خو دچا هم له ور پام کیږی او نه داسی کار په عوامی نظر وچاته بی مناسبته ښکاری، په اوس وخت کښی کله یو مدنی هنرمند یو عوامی بدله وائی نو باید ډیر کوښښ ئی په دی کی وی چی هغه له خپلو ټولو شرایطو سره ووائی لکه څنګه چی په عوامو کی رواج وی کم وخت چی داسی یو بدله ویل کیږی نو که په راډیو کی وی که

په یو محفل کی وی او که بل چیری خو باید ترمخه معرفی کیږی چی داد پلانی ځای عوا می

بدله ده او په خپل ذاتی رنگ کی ویل کیږی. را به سو مدنی بدلو ته داخو هغه بدلی دی

چی تقریباً زموږ په ژوند کی ئی دوره شروع شوی ده په دې ډول بدلو کی مو کافی توجه په کار ده ځکه دا هغه بدلی دی چی زموږ د نوی ارټ

مقدمات ګڼل کیږی او دوروستنی انکشاف دپاره ئی هم دغه مقدمات په نظر کښی وی .

ددې ډول بدلو د پاره نوم تا کل مهمه خبره ده یعنی چی د هر هنرمند و هری بدلی ته نوم

ایښودل کیږی مثلاً د «پروینی» مشهوره پسرلنی بدله دی «ګل فروش» وبلله شی او په همدې ډول د هر چا بدله نوم ولری .

بل شی چی په مدنی بدلو کی غوښت غواړی هغه د بدلی واقعیت ور کول دی ځکه په مدنی بدلـــو کښی یـــوازی آواز او آهنګ معتبر نه وی بلکه د بدلی یا د غزلی معانی هم

اهمیت لری او د ویلو په وخت کښی ئی خلک تصور ساتی او په دغه نسبت نو ضروری ده چه د هر محل بدله او د هری بدلی محل د ساز او آواز او غزلی په ټولو مناسباتو کښی پوره وپالل شـــی .

په بدله کښی باید داسی نواقص نه وی چه تر هغه بدله وائی چه په واقعی ډول ئی باید ښځه ووائی او نه باید ښځه هـغه بدله ووائی چه په واقعی ډول ئی باید نر ووایی

مثلاً د النبی د نارینه په درانه آواز و نه ویل شی .

ولی دلګیر ولاړ یی یار د دلګیره زه یم چه دپلار د کوره ځمه مثلاً دا اناره بیاد ښځی په لطیف ږغ و نه ویل شی ستر ګی توری که نری او بوله راسه شین خالی .

همدار نګه په خندا نه خوله وویل شی چه «چشم ګریان دارم چشم ګریان» او باید د ژړا ندو

ستر ګو په لهجه کی دا و ویل شی چه «لب خندان دارم لب خندان» د مدنی هنرمند: نو په مخ کی

دا ډیره د غور مسئله بولم چه دوی په خپلو بدلو کی ترممکنی اندازی پوری واقعیت تأمین کړی ځکه هر څو نه چه په بدله کی واقعیت احساسیږی نو

هغو نه د ذوق په نشاط کی وجدانګیزه اغیزی ښندلای شـــی .

لکه د دی عصر په تحریری ادب کی چه واقعیت لازم امر دی د غه رنګه هر څو مره چه نه چه په الحانی ادب کی د واقعیت مراعات وشی هغه دارټ

پر انکشاف باندی زیات تاثیر اچوی او په دی ترتیب نو کیدای شی چه د ژوند مدنی اړخ له بدوی اړخ څخه ځان جلا کړی او دا ټول بارز

شواهد په ځان کی وبرینبوی .

دا و زما یو نظر نیخه چه اهل نظر به څه پکښی ووایی .

د ۲۱ مخ پاته

ساینس او هنر

نن سبا داسی ساینس پوهان شته چی له دواړو څخه یی معلومات زیات دی ویل کیږی چی د سرمایه داری دلومړی دوری لیکوال د دوروستنی دورې په نسبت مترقی ؤ، او داسی نور .

ددې موضوع یو بل اړخ دارزښتو نو مسأله ده د ساینس قوت د هغی په واقعیت کی پروت دی مګر په هنر کی د بدیعی ارزښت پله درنه ده ارزښتو نه ترزیاتی اندازی عندی دی اما واقعیتو نه ترزیاتی اندازې آفاقی دی او په اسانی ترې انکار نشی کیدلی بیا هم ستاسو خوښه .

«زړی»

د م، ی ترجمه

افغانستان د افغانستان لپاره

د دغه تعبیر ډیر ارت او د ناسیونالیزم له نظره د هغه اولس لپاره چی دودی او انکشاف پر خوا ګام پورته کوی حیاتی ارزښت لری .

افغانستان د افغانستان لپاره په دی تعبیر چی د پنځو زرو کالو تاریخ او د ځلیدونکی مدنیت درلودونکی اوس په لمړۍ مرحله کی باید د ځان لپاره وی تر څو چی وکولای شی د نړۍ لپاره هم وی .

هر هیواد د کلتور او ثقافت درلودونکی دی چی د زمانی او د پیړیو تیریدل هغه منځ ته راوړی او داسی مشخصات لری چی د وی ته تر نورو هیوادو بیلتون او جلاوالی ورکوی او هغه د خپل تاریخ سره پیوندوی .

لوړ غرونه، شین آسمان او د هغه هیواد خوندور ټاټوبی چی د پنځو زرو کالو په اوږدو کی د مدنیت څلورلاری ؤ د هغه په مشخصاتو کی پوره اغیزه لری .

د هر هیواد وګړی د هغو صفتو درلودونکی چی په دوی پوری مربوط ټاټوبی کی روزل کیږی، وده کوی او د کمال درجی ته رسیږی .

په دغه حساب سره باید افغانستان د افغانستان لپاره وی لازمه ده چی د افغانستان منابع او به، خاوره، تیږه لرګی بوټی ؛ شینلی غرونه، معدنونه او کانونه د افغانستان د آبادۍ لپاره ولری .

کله چی موږ وایو (افغانستان د افغانستان لپاره) معنی ئی داده چی موجوده وسایل تولیدی منابع، او سربسته ذخیری ئی پخپله د افغانستان په دردو خوړل شی او مشکل ئی حل کړی، باید چی له او بو څخه ئی د مځکو د خړو بولو له پاره ګټه واخیستله شی .

انسانی قوه ئی د افغانی مشخصاتو درلودونکی وی او پښتنی کلتور وپالی .

کله چی موږ په دغه تعبیر کی په کږه لاره ولاړ شو او د کلماتو په رد و بدل کښی هغه ونغاړو په دغه صورت کی موخپل ځان تیر ایستلی دی .

د زمانی د لیکوالو څخه یو تن داسی عقیده لری چی ډیره بده وضعه دیوه هیواد له پاره داده چی لیکوال ئی پر تیارو باندی در ټاا چولو د ابهاماتو د توضیح د ذهنونو د روښانه کولو او د حقیقت او واقعیت د اظهار او په ډاګه باندی دوینا او بیان پر ځای د شخصی ګټی، د شخصی اختلافونو د شخصی خوابدیو او کج بحثیو له کبله چی خپله خبره نورو ته سمه او رښتیا و بریښوی ذهنونه مغشوشوی او حقیقت بل ډول ښکاره کوی .

دغه د ذهن مغشوشول او د حقیقت بڼه په بله بڼه اړول ساده خبره نه ده د اد خلکو په سرنوشت باندی لوبی کول دی د هیواد د راتلونکی زمانی سره لوبی دی، د وګړو د تاریخ او کلتور سره لوبی کول دی او د اټوله د تاریخ تر قضاوت لاندی راتلونکی دی .

هغه مملکت چی تاریخ او مدنیت لری، روښانه تیره زمانه لری، د ډاډوړ انسانی قوه لری او سربسته منابع لری کیدلای شی چی تر رخی لاندی راشی او سترګی د هغه د ګټی هیله من وی

موږ افغانستان د افغانستان لپاره غواړو د افغانستان سر لوړی، د افغانستان د لرغونی او تاریخی مدنیت د ژوند کولو او د دې لپاره چی زموږ اساسی قانون وائی افغانستان ځان ته یو مستقل هیواد دی، خپلواک هیواد باید پخپله د ځان لپاره وی وروسته تر هغه چی د ځان لپاره وکولای شی چی بیا د نړۍ لپاره هم وی او په بشری فامیل (کورنۍ) کی ښه غړی شی .

نور په ۲۵ مخ کی

قمره (اڅکزی)

ګډ مسئولیت

دانسان ژوند بیل بیل مراحل لری او هره مرحله ومختلفو شرایطو او ایجاباتو ته اړتیا لری کله چی ښځی او نارینه د تجرد دوری څخه لیری شی او دیو بل سره یی د ګډ ژوند لاس سره ورکی نو دغه وخت دی چی حیات بل شکل غوره کوی او دواړه د ګډ ژوند او ګډ مسئولیت سره مخامخ کیږی چی هر یو باید په خپل نوبت د کورنی ژوند د نیکمرغی او سعادت لپاره خپله وظیفه درک او دهغه په اجرا کولو کښی د مسئولیت احساس وکړی .

د پلار وظیفه یوازی دا نه ده چی ټوله ورځ د کور څخه د باندی تیره کړی په دې عنوان چی د کورنی معیشت تامین کوی .

بلکه د کور په محیط کی هم دیوه مهربان پلار او دیوه ښه ملګری په صفت وظیفه لری د میرمنی سره د ښه ملګری او ښه مشورئی څخه ځان ونه ژغوری د کوچنیانو سره مهربانی ولری او دهغو وهری پوښتنی ته په ورین تندی .

او پراخه حوصله جواب ووایی د کورنی محیط کنترول وکړی او کوشش وکړی چی د میرمنی په مرسته د خوشحالی فضا د خپل کور پر آسمان راخپره کړی .

دغه رنګه مور باید په دې اکتفا ونه کړی چی په کور کی پخلی کوی نور پاکوالی او د کوچنیانو روزنه کوی بلکه لازمه ده چی د یوې مهربانی مور څخه پرته د خپل میړه ښه مشاوره دغم او ما یوسی په وخت کښی ښه ملګری د کوچنیانو ښه ښوونکی او بالاخره د کورنی ژوند د تنظیم او سعادت د کانون بانی وی، ښه میرمن د کور خوشحالی او نیکمرغی ساتی او تل دا کوښښ کوی چی د ټولو خاطر وساتی او دا فکر وکړی چی د کورنی د نیکمرغی او بریالیتوت مسئولیت د دی او د دې د ملګری چی د مرګ تر ګړی پوری سره یو ځای دی د علاقی او صمیمیت څخه ډک فضا کی سره واوسی او یو بل ته د مرستی اوږه ورکړی په هره برخه کی د ګډ مسئولیت په احساس سره ژوند مخ ته بوزی .

د ۲۴ مخ پاته

افغانستان د افغانستان ....

هغه مملکت چی د ځان له پاره نه وی، حقوقی شخصیت ئی هم نه وی بشپړ، نو کله چی حقوقی شخصیت یی نه ؤ کامل په بشری لوی فامیل کښی هم یو کامل او رسیدلی غړی نشی کیدلای .

هو کی موږ په لوړ آواز دا منو چی افغانستان د افغانستان لپاره زموږ د نن ورځی لوی شعار دی موږ هغه وخت کولای شو چی د نورو لپاره واوسو چی د مخه تر هغه د ځان لپاره واوسو .

په دغه باره کښی هر یو ناوړه تعبیرات چپ له دې چی له حقیقت څخه سترګی پټی شی بل کوم شی دی .

وږ دغه لار پای ته رسوو او له هغه څخه ناچاره هم یو تر څو چی هغه سر ته ورسوو .

سید حسام الدین «حسام»

ټینګ عزم او کلکه اراده

د بشري ژوند د ټولو نیکمرغیو ضمانت کوي

نن که د یوې خواترقي او تکامل د بشري ټولنو دابرومند ژوند د بقا ستر قانون اود انسانانو لویه هیله ده خو د بلې خوا بیا ددې ستر قانون او د انسانانو لویه هیله ده خو د بلې خوا

بیا ددې ستر قانون او اساسي لویې هیلې په مخ کښې ډول ډول خنډونه او مشکلات هم وجود لري چه له منځه وړل غواړي دا هم منلې شوې حقیقت دی چه د یوې ټولنې او هیواد د اقتصادي اجتماعي، فرهنګي او نژرواجتماعي اوملي

چارو د سمون په خاطر په اصطلاح نه د اسمانه ګوګ راکښته کیږي او نه د مځکې څخه څک راز ایږي چه د ډول ډول خنډونه او مشکلات له منځه لیري کړي.

خو په حقیقت کې هغه ستره قوه چه د یوې ټولنې او یوه هیواد د پرمختګ او تکامل کاروان د مقصد سرحد ته رسوي په خپله د هغې ټولنې او هغه هیواد ټولګړي په تیره بیا ځوانان او پیغلې دي

او هم دا ځوانانو او پیغلو وجود دی چه د ټولنې او هیواد د نو د راز راز لویو لویو مشکلاتو او خنډونو په مقابل کښې د ټینګار او مبارزې

کولو پیاوړې قدرت لري.

خو د دې لپاره چه د یوې ټولنې ځوانان او پیغلې د خپلې ټولنې د وړاندې تګ په هیله په همله مجادلو کښې پوره برې ترلاسه کړي ورته ښائي

چې د ټینګ عزم او کلکې ارادې ستر احساسات په ځانو کښې راپیدا او هغه پسې وروزي، ځکه ټینګ عزم او کلکه اراده د بشري ژوند د ټولو نیکمرغیو ضمانت ګڼل کیږي. هم دا ټینګ عزم او کلکې ارادې دې چې بشر حیران ونکې تخنیکي ساینسي او نور ستر دافتخاره ډک اکتشافات کړي او د طبعي موانعو او خنډونو له منځه وړلو په غرض لې بشري ټولنو په اختیار کښې ستر وسایل ایښې دي.

ټینګ عزم او کلکې ارادې په ټولنو کښې د پرمختګ شرایط راغونډوي، وروسته پاته هیواد ونه اقتصادي، سیاسي اجتماعي فرهنګي، تخنیکي او له نور لحاظه د ترقي او تعالي درجو ته پورته کوي.

په کوم ټولنو کښې چې د ټینګ عزم او کلکې ارادې ونه ځوانانه او ربښوئي د هم هغې ټولنې د ټولو وګړو په تیره بیا د ځوانانو او پیغلو په پاکو مغزو کښې ځای نیونې وي نو ښکاره ده چې د تکامل او وړاندې تګ کاروان ئې به هیڅ کله خپله لاره غلطه او خطا نه کړي او نه به ترشا پاته شي.

د پورته څو کرښو په افاده کولو ټولو ځوانانو او پیغلو ته ښائي چې د تاریخ او د زمانې د غوښتنو سره یو ځای خپلې ټولنې او خپل اولس ته د کار او فعالیت په هیله د ټینګ عزم او کلکو ارادو په تناو ملاوې وتړي.

خپلې مادي او معنوي اړتیا وې د ټینګ عزم او کلکې ارادې د پیاوړو احساساتو په پیروۍ په ګډ کوښښ تامین کړي.

هو ځوانان او پیغلې باید په خپله ټولنه او هیواد کښې د ملي جهاد دستر بیرغ د لوړ ولو په خاطر د ناپوهۍ، بیکارۍ، بې اعتمادۍ

نور په ۲۸ مخ کې

د روح الله مرادژباړه

بوتیچلی د ښکلو ښځو نقاش

دهند تاریخ به هیڅکله د ایټالیسی د پنځلسمی پیړۍ نابغه نقاش (بوتیچلی) او دهغه ښکلی او دلیدووړ تابلوګانی هیری نه کړی بوتیچلی په نقاشی کښی د مخصوص سبک خاوندؤ، او دهغه په زړه پوری تصویرونو څخه ښکلا او ظرافت په څرګند ډول ښکاری په فلورانس یا دهغه د زیږیدو په ځای کښی د بوتیچلی آثار او هنری تابلوګانی د بل هر استاد څخه ښی خرڅیږی او د نړۍ د ښکلو کوټو او د میلمنو د هر کلی د سالون ښکلوونکی دی.

د بوتیچلی په نقاشی کښی څه شیان شته دی؟

لومړی دهغه په تابلوګانو کښی ښکلا خوشحالی او د وجود فورم بیله نقصه او په خاص ظرافت سره څرګندیږی. دوهم دهغه د آثارو ښه والی دی چی د ډیرو پټو حقایقو ژوندی ویونکی دی او بالاخره د تصویرونو رموزه جاذبه قوه ده چی لیدونکی او ننداره چی د ځان خواته راجلبوی.

د دغو صفاتو پوره نمونه دهغه په دریو تابلوګانو کښی: «دونوس زیږیدنه» «پسرلی» او (پالاس وحشی غواته په قارشو) په څرګند ډول لیدل کیږی د (ونوس زیږیدنه) د مینی ښکلی میرمن په داسی حال کښی ښیی چی نوی د سیند د اوبو څخه راوتلی او په مستوسترګو د هستی نړۍ ته ګوری نرم؛ نرم بادونه هغه د سیند غاړی ته بیایی او د سیند په غاړه کښی سپیڅلی نجونی د زر بفتو د پردې سره د هغی د راتلو منتظری دی.

بوتیچلی چی په کال ۱۴۴۴ یا ۱۴۴۵ کال زیږیدلی دی، د فلورانس د دوری له اولادی څخه دی. هغه وخت یو هنری پسرلی چی د رنساس د دوری په نامه مشهور دی د خپل ژوندلومړۍ شیبی تیرولی.

د بوتیچلی اصلی نوم (ساندرو) مخفف دی او هغه د یوی اولاد لرونکی کورنی ځوان زوی ؤ هغه په کوچینوالی کښی ډیرژر په هغه څه شی کښی لاس او مهارت پیدا کړ چی غوښتل یی، مګر له لیکلو، لوستلو او حساب څخه یی کرکه درلوده.

څوموده یی د زرګرۍ په یو هټی کښی کار وکړ؛ مګر ډیرژر یی زړه له دغه کار څخه تور شو. بوتیچلی د نقاشی سره مینه درلوده بالاخره پلار یی چی یو د باغ ؤ، خپل زوی د نقاشی د زده کړی د پار، د فلورانس ښار ته ولیږه او ساندرو څو کاله د هنر د استادانو سره کار زده کړه او ښایی چی د هماغه خلکو د ژوندانه آزاده او بی قیده طریقه وه چی بوتیچلی هم دواده څخه کرکه او بیزاری څرګندوله. یو ځل یو ملګری د هغه څخه د تجرید سبب پوښتی ؤ، ځوان نقاش وویل: یوه شپه می خوب ولید چی واده می کړی دی داسی وډار شوم چی له خونی وتښتیدم او تر سهاره په سړکو نوګر ځیدم!

د بوتیچلی زیات شهرت د هغو تابلوګانو محصول دی چی د ښځو څیری یی نقاشی کړی

دی د (صبر) تابلو چی یوه ځوانه مور دخپل کوچنی دلو بو په ننداره بوخته ښیی، او د حضرت عیسی او مقدس مریمی څو تابلوګانو د پنځه ویشت کلن نقاش نوم مشهوره کړ هغه وخت دمدیسی د کورنۍ شاهانو په ډېر قدرت او شوکت سره دښار دچارو واګی په لاس کی درلودې او کوښښ یی کاوه چی دخپل ښار ظاهری تجملات له لاسه ورنکړی. دلورنزو چی دمدیسی د کورنی ستر او مشهور پاچاؤ، په دنیوی لذاتو، شعر او شرابو مینؤ. هغه د فلورانس فیلسوفان، نقاشان، شاعران او هنرمندان شاوخوا ته راټول کړی ؤ او دفلورانس ښاریی دپنځلسمی پیړۍ د روښانه کلتور او ادب مرکز ګرځولی ؤ ددغو نقاشانو څخه یو هم (بوتیچلی) ؤ چی لورنزو ته یی ډیره عقیده درلوده. لکه چی کله یو بډای دهغه څخه د (جادوګر ستاینه) تابله وغوښته، بوتیچلی دمدیسی کورنی ټول غړی په تابلو کی وښودل او خپل عکس یی په مینځ کښی رسم کړی ؤ.

بوتیچلی یو ډنګر وجود، لوړه پزه او نری سترګی او ږده زنه درلوده دهغه دشهرت آوازی سبب شوی چی پاپ (څلورم سیکستوس) هغه په کال ۱۴۸۱ کښی روم ته وغواړی. بوتیچلی هلته دپاپ څو پورتریتونه رسم کړل او دواتیکان دنوی دوانۍ دپاره ئی درې دیوالی تابلوګانی چی دمقدس انجیل دفرمانونو څخه یی الهام اخسته ترسیم کړی او کله چی وروسته له اتلسو میاشتو بیرته خپل استوګنځی ته راستون شو دخپلی سیمی لوی استاد ؤ. مګر هغه وخت فلورانس خپله لومړۍ دبدبه له لاسه ورکړی وه.

دفلورانس او سیدونکو درې کاله دیو پرهیزګار راهب (سماونارولا) تر دیکتاتورۍ لاندی له یوې نسبتی او احتیاطی آرامی څخه برخورداره وو. مګر پاپ ددغه راهب دله مینځه وړلو امر ورکړ او خلکو دغه راهب په ۱۴۹۸ کښی په دار وځړاوه او بیایی وسوزاوه.

حساس او ژر رنځیدونکی انسان لکه بوتیچلی ددغو سختو ورځو زغم ونشو کړی، نو ځکه یی ددانتی د (الهی کمیډی) په مصورولو شروع وکړه او د نورو قلمی طرحو سره ئی دهغه نه یو اصیل اثر جوړ کړ وروسته له هغه په کال ۱۵۰۱ کښی ګوښه ګیر شو. ځکه هغه وخت بوتیچلی پنځوس کلن وو (لیونارد دوانیچی (میکل آنژ او رافایل) هغه له صحنی څخه لیری کړ او نوی سبک ئی مینځ ته راوړو. بوتیچلی له نقاشی نه لاس واخیست او دعمر وروستی ورځی یی په خپل وطن کښی تیری کړی او په کال ۱۵۱۰ کی مړ شو او جنازه یی دفلورانس په ښار کی خاورو ته وسپارل شوه.

د ۲۶ مخ پاته

ټینګ عزم او کلکه اراده ....

ځانځانی، تعصب، درشوت غلا او نورو هغو اجتماعی مفاسدو پرضد چی هر آن دټولنی او ولس ژوند تهدید او دپنا لوری ته سوق کوی دټینګ عزم او کلکی ارادی په غښتلی وسله په هر ځای او هر وشرایطو کښی چی وی مبارزه وکړی.

دبشری ژوند په دی حساسو کړیو کښی تاریخی ځوانانو او پیغلو ته دا وظیفه سپارلی ده چه دخپلی ټولنی دټولو خلکو پام او توجه د خپلو حقوقو، نیمګړتیاو، او مسئولیتو ته را وګرزوی او په اجتماعی مسایلو کښی دافراط او تفریط څخه په ټینګه ځان ګوښه دا عتدال مثبته امن ونیسی او هم دارنګه دشرائطو دتحلیل او درک څخه دهر څه لاس په لستوڼی دغوښتلو منفی احساسات له ځانه لیری کړی.

بالاخره ځوانان او پیغلی باید کوښښ وکړی چه دعلم او پوهی په جامو ځانونه ښائسته کړی او ددی وړاندی تللی پیړۍ دغوښتلو سره سم دخپلی ټولنی او هیواد د ترقی او تکامل څرخونو ته نور هم دټینګ عزم او کلکی ارادی په مرسته حرکت ورکړی.

له تهیج البلافی څخه

عبدالقدوس [ن]

قلیعمل العامل فی ایام مهله

پاک خدای پر ټولو شیانو
باندی احاطه لری او دهر چا
د زړه له ټولو اسرارو څخه
آګاه دی کائنات ئی د
ارادی مغلوب او آسمان

ئی په تقدیر سره ګرزیدونکی
دی - تاسی د لوبو او خوشی
د چټی شیانو له پاره نه یاست
خلق شوی تاسی ته دی معلومه
وی چی د فراغت او تندرستی

زمانه په ژوند کی یو فرصت
دی چی باید تر آخیرنی
اندازی پوری استفاده او
کار ځینی واخیسته شی ولی
چی د عمر چمن تل سر سبزه

او په بهار کښی نه وی یعنی
انسان تر پایه پوری ځلمی او
مړو چی نه پاتیږی او د
زړتوب زمانه یا د ناروغی
حوادث ورته راتلونکی دی

په دې زمانه کی ئی غریزی
حرارت مړ د خوشحالی او
نشاط آر روګانی ئی په زړه
کی خاموشه او د سرو ږیری

خوشبویه ویښتان ئی د کافور
په څیر سره سپین او سړو
وهلی وی پاک او مهربانه
خدای تاسی د جهالت په

پټ بیابان کی سرګردانه نه یاست
پری ایښی او د نیک بختی مزی
ئی په لاس کی درکړی دی یعنی
په دې نه دی خوښ چی مخلوق
دی په ناپوهی او ړندتوب کښی
ژوندو کی او خوږ عمر دی په

ناخبری یا ګمراهی کی تیرشی
نو ځکه ئی پیغمبران مبعوث کړه
او هغوی تـــــه ئی د هدایت د
لګیدونکو شعلو لوحی په لاسو
کښی ورکړی چی په هغه سره

ئی ټوله جهان پر سر واخیستی
حضرت محمد مصطفی [ص] چی
له آخیر نیو برګزیدګانو څخه ؤ
د قرآن مجید د بالغه حجت آیاتونه
ئی وټوله دنیا ته قرائت او دوی

ئی په توحید سره پوه کړه مطلب
دادی چی نور شرعیتونه پدغه
عزیز کتاب سره تکمیل او د تبه
کاریو او خیره سریو مخه وتیول
شوه تاسی ته دی دا ښکاره وی

چی زموږ محبوب پیغمبر د تبلیغ
او فداکاری وظیفه په ډیر دقت
او استقامت سره انجام او ټوله
ئی پر سمه لار رهی کړو ای
مسلمانانو تاسی ته وایم د صدق
وصفا لار وینی او مغزونه مو
له ناپاکو خوشو وسوسو څخه

پاک کی بدرویشونه پر مخ
پریږدی او په ظلم ؤ زور
پسی نو پسله دی څخه مه ګرزی
پوه سی چی د عمر له زمان
څخه سره له زیانانو غیر له
لیږیدو څخه نور څه ندی پاته

شوی ځکه چی غفلت د ناخبری
هر څو مره اوږد ژوند ډیر
ژر ختموی او طومار ئی
ډیر ژر پیچی .

د سرکښ نفس واګی
مه سستوی یعنی سر کښه
آس که ئی خپله قیزه سسته
ولید له مستی شروع کوی
او حتماً سپور د نیستی او

مذلت و کندی ته اچوی .
هیڅ ګناه کوچنی
مه شمیری ولی چی په کراره
کراره سره ئی د شرم پرده
له حیانا که مخ څخه شیوه
کیږی یعنی دا ناچیزه د

ګناهو د لویو ګناهو په
سیند کښی نیست ؤ نابود
کیږی ای د خدای بندګانو
که ځان دوست لری او پاک
خدای مو مطلوب دی اطاعت
ئی و کی ولی ګنهګار په

د محمد علي ژباړه

مهاراجا او بنا

په پخوا زمانه کی د مدراس په ښار کښی یو مهاراجه ژوند کاوه تر ټولو مهاراجه ګانو شته من او بډای ؤ .

یوه ورځ مهاراجه په دې فکر کی شو چی د خپلی ماڼۍ په څنګ بو معبد ځان ته جوړ کړی .

نو ئی مهندسان او بنایان راټول کړل او خپل خواهش ئی دوی ته بیان کړ .

تر موافقی وروسته په نتیجه کی کار پای ته ورسید او مهاراجه ننداری ته راغی څنګه چی

د دغه معبد د په لیدلو ډېر خوښ شوی ؤ هری خواته ګرزېدی او د هغه صفت ئی کاوه کله چی د معبد د ګنبدی څخه لاندی و کتل سترګی ئی وتورېدلی ، د زړه تکان ئی په زوره شو ، پښی ئی ورېږدېدلی او غړی ئی وتښتېدل -

هر څومره ئی چی کوښښ وکړ ځان ئی نه شو تکیه کولای او شیبه په شیبه د پښو رېږد ئی ډېرېدل بنا چی د مهاراجه شا ته ولاړ ؤ پوه شو چی مهاراجه بېرېدلی دی نو ورته نژدې ورغی

او ورته وئی ویل ښاغلی مهاراجه په رښتیا سره چی تر تابل ساده نه پیدا کېږی . ته ډېر بیریدونکی هم ئی تا ته چا وویل چی پر ګنبد ده باندی پورته شه ؟

کله چی مهاراجه د بنا خبری وا وریدی ډېر په قار شور نګ ئی تک سور واوښت او بنا پسی ئی په منډو شروع وکړه - بنا د مخه او

مهاراجه په پسی له زینو څخه لاندی کښته شول کله چی مځکی ته ورسیدل د مهاراجه هوښیار مشاور چی له قضیی څخه خبر شو نو ئی وویل

ای ښاغلیه - بنا غوښت چی تا له پریو تلو څخه خلاص کړی ځکه چی هغه وخت چی ته ور باندی په قهر شوی بیره درنه هیره شوه او د بنا پسی

لاندی کښیوتی هغه تا ته په سپکه سترګه ندی کتلی بلکه تا سولپاره ئی یو لوی خدمت تر سره کړی دی کله چی مهاراجه دا خبری واوریدلی او په حقیقت باندی پوه شو بنا ته ئی یو زر روپی بخشش ور کړی .

د ۳۰ مخ پاته

فلیعمل العامل فی....

نه خپل بد کردار سره غیر له خپله ځانه و بل ته نقصان نه رسوی نقصان لیدونکی سوداګر مغبون ندی بلکه په حقیقت سره هغه څوک مغبون دی چی د دین او ایمان ګوهر ئی دلاسه ورکړی وی که تاسی غواړی چی خوشبخته او مسعود یاست په ډېر دقت سره له نورو څخه پند و عبرت واخلی ریاکاران او خود نمایه اشخاص مشرکان بلل کیږی ولی چی لږ ځل په اراده او خلوصیت کښی ور حاصل شی نو لوی خدای دریا کاری د سجدی په ځای کښی ږدی له بولهوسانو سره مه کښینی له دروغجنانو او منافقانو څخه پرهیز وکی په رشتیا چی رشتیاویونکی څومره مورد د اطمینان او بالعکس په دغه اندازه سره درواغجن منفور او منظنون وی له حاسدانو څخه لیری ګرزی ولی چی دوی خپل حسد سره پرهیزګاران او عابدان نه دی یعنی حسد هغه اوردی چی ایمان دوچ لرګی په څیر سره په کښی ایری کیږی .

په کینه او عداوت سره هوښ کوی چی د خپل خواږه عمر یوه شپه ضایعه نه کی او د چا بد و نه غواړی ولی چی پخپله به په هغه بدی سره مبتلا سی .

د آرزو ګانو لمن مه پراخوی ولی چی په پراخی کښی ئی د آرزومند خطه مضمره ده او تر مراده پوری نه ورسیږی .

د پښتې د ۲ مخ پاته

موږ باید خپله ټولنه ....

پوهان او باتجربه مشران چې د ټولنې د درد و نو د اصلاح کولو ډاکټران دي د ځینو مظاهرو له مخه د هغه احساس کولای شي او دغه سبب دي چې یواځې د ټولنې مشران او واقعي پوهان دغو ره تدبیرونو او نیک تشخیص دلاري خپلې ټولنې د پرمختګ او عالي هدف پړاو ته رسولای شي.

موږ که چیرې په رشتیا د خپلې ټولنې سمون او پرمختګ غواړو په کار ده چې د خپلو خلکو د فردي او اجتماعي نیمګړتیاو او ملي درد و نو واقعي تشخیص وکړو، شرایط او وسایل په نظر کې ونیسو او ټولنه د پرمختګ پر هغسې سالمه او بهترینه لار پر مخ بوزو چې امکانات ئې برابر او بې خطره وي او د ټولنې ذهنیت ئې ومني.

له همدغه ځایه څخه دي چې مشر توب لوړ لیاقت، پراخه حوصله، تر خپلو شخصي ښیګڼو تیر بدل، د ټولنې د درد و نو واقعي تشخیص او فداکاري غواړي او همدغه لوړ شخصیتونه کولای شي چې د پاخه تدبیر دلاري خپلې ټولنې پر مخ بوزي او د ارتقا پړاو ته ئې ورسوي.

زموږ هیواد چې نن د نیکه مرغه د تحول او پرمختګ خواته ګامونه اخلي او د خپل ترقي غوښتونکي او محبوب پاچا تر ستر قیادت لاندي د هیواد په هره سیمه کې اجتماعي او اقتصادي اصلاحات کیږي موږ ټولو ته په کار دي چې د خپل هیواد د اجتماعي اصلاحاتو کلک ملاتړ وکړو او په دغه لار کې د خپل ولس اقتصادي امکانات او ذهني شرایط له نظره ونه غورځوو.

موږ ډاډه یو چې د دي ولایت د اخبار لیکلو، کلتوري او مطبوعاتي چارو په پرمخ بیولو کې چې د هغو په ښه توګه سر ته رسیده نه یواځې زموږ د کندهار یا نود معنوي رشد او اجتماعي شعور په راویښولو کې لوی لاس لري بلکه د هیواد په معنوي پرمختګ او تحول کې هم خپله ګټوره اغیزه ښندي یواځې نه یو او د کندهار لیکوال، شاعران او پوهان زموږ سره ولاړ او قلمي همکاران دي موږ د کندهار د مجلې په چلولو کې د ښاغلي ځلمي «بارك» کوششونه ستایو او هیله کوو چې زموږ حساس لیکوال د خپلې په زړه پورې مجلې سره د پخوانه زیاته قلمي همکاري وکړي او په خپلو تاریخي، علمي، ادبي او نورو څیړنو او لیکنو سره د خپلې مجلې د نشراتي سویې د لوړولو د لاري د خپلې ټولنې په معنوي خدمت کې لویه برخه واخلي (ایوبي)

د پښتې د دوهم مخ پاته

د مجلې د لوستونکو سره ....

د نه شته والي له کبله مې ستاسو د غه معنوي خدمت په زړه پوري توګه سره نه دي رسولی خو د غه حقیقت څرګندول غواړم چې په خپل وس او د غې سیمې د پوهانو او لیکوالو په قلمي مرسته مې وکولای شو چې د مجلې د چلولو د مسؤلیت نه ډکه او د رنه وظیفه په ډېره حوصله او فداکاري پر مخ بوزم او وس چې د اطلاعاتو او کلتور د محترم وزارت په صوابدید د کندهار د مطبعې په وظیفه بوختیږم بیا هم چمتو یم چې د خپلې درنې مجلې سره خپله علاقه وساتم او نه یواځې د اچې د طباعتي حیثیت به د مجلې سره خپل اړیکې وساتم بلکه د مجلې په صحافت او داسې نورو کې به هم خپله مرسته ونه سپموم.

باید د غه اعتراف هم وکړم چې زما سره د مجلې په چلولو او مطبوعاتي خدمت کې د اطلاعاتو او کلتور لویو مدیرانو په تیره بیا ښاغلي غلام محي الدین [ایوبي] پوره همکاري کړې او زه ئې او س په قدردانۍ سره یاد وم. په پای کې د مجلې د ګرانو لوستونکو سره د خدای په امانۍ په ترڅ کې د خپل محبوب پاچا تر ستر قیادت لاندي د افغانستان زیاته لوړتیا او هوساینه غواړم.

«بارك»

د کندهار د کروند ګرویوه ډله هغه وخت چې خپل زراعتي تراکتورونه او د
هغه ملحقات د هیئت په مخ کې تسلیمیږي